# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۱۵) ګڼه / شنبه ۰۷ جمادی الثانی ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۱۰ جدی ۱٤۰۱ هـ.ش / ۳۱ دسمبر ۲۰۲۲ میلادي


## ۲۶ نوې ولسوالۍ جوړېږي

شریعت: دکورنیو چارو وزارت وايي، ۲٦ نوې ولسوالۍ جوړوي. د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، اوس د دغو نویو جوړېدونکو ولسوالیو لپاره د تشکیل پر جوړښت کار روان دی. د کورنیو چارو وزارت ویاند عبدالنافع ټکور وايي، دغه ۲٦ ولسوالۍ په ۱۲ بېلابېلو ولایتونو کې جوړېږي چې له هغې ډلې پنځه داسې ولسوالۍ هم دي چې پخواني جمهوري دولت په تشکیل کې زیاتې کړې وې او ملکي تشکیل یې ورکړی و، خو دوی به نظامي تشکیل هم ورکړي. د ټکور په وینا چې د دې پرېکړې په لاملونو کې د دغو ولسوالیو د مساحت او نفوس په ګډون د خلکو غوښتنې هم په پام کې نیول شوې. خو معلومه نه ده چې دا ولسوالۍ په کومو ولایتونو کې جوړېږي.

## سفر وزیر انرژی و آب به ازبیکستان غرض تمدید قرارداد برق وارداتی

### ۳۵ میلیون دالر باقیداری حکومت گذشته نیز در این سفر پرداخت می‌شود

شـریعت: ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت انرژی و آب روز گذشته در راس یک هیئت به منظور عقد قرار داد برق وارداتی، از طریق بندر حیرتان عازم ازبیکستان شد.

سرپرست وزارت انرژی و آب پیرامون این سفرش به رسانه‌ها گفت: به منظور تمدید قرارداد برق وارداتی ازبکستان به آن کشور سفر می‌نماییم تا مبلغ ۳۵ میلیون دالر باقی‌داری حکومت گذشته را با صرفیه برق مدت بیش از یک و نیم سال پس از پیروزی امارت اسلامي را پرداخت کنیم.

ملا منصور افزود: مـردم ما از بابت نبود برق هیچ‌گونه تشویش و نگرانی نداشـته باشـند. قرارداد برق کشور کمافی‌سابق، میان مسؤولان افغانستان و ازبکستان عقد می‌شود.

وی هم‌چنان از ایجاد شبکهٔ برق بادی در غرب کشـور نیز خبر داده گفت: قرار است در ولایت‌های هرات و فراه شبکهٔ برق بادی ایجاد شود که با ایجاد آن بخشی از نیازمندی... ص۷



## چین د دېرو له سکرو څخه د برېښنا د تولید په برخه کې پانګونه کوي

شریعت: د چین د سوداګرۍ خونې استازي د افغانستان برېښنا شرکت لـه عمومي رییس سره پـه لیدنه کې ویلي غـواړي په افغانستان کې له دېرو سـکرو د ۵۰۰ مېګاواټه برېښنا تولید پـه برخه کې پانګونه وکړي.

د افغانستان برېښنا شرکت په خبرپاڼه کې راغلي چې د دغه شرکت اجرایوي رییس محمد حنیـف حمزه د چین د سوداګرۍ خونې له استازي سره ولیدل.

سرچینې لیکلي د چین سوداګرۍ خونې استازي پـه دې لیدنـه کـې ویـلي، غواړي... ۷مخ

معاون اداری ریاست الوزرا

## شناسایی و حل مشکلات مردم از اولویت‌های امارت است

شریعت: معاون اداری رئیس الوزراء در دیدار با علماء و بزرگان ولسـوالی بالامرغـاب ولایـت بادغیس گفت نظام اسـلامی متعلق به همه‌ی مردم افغانستان است و حمایت از آن وظیفهٔ هر فرد می‌باشد.

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزرا با نشر خبرنامه‌یی گفته اسـت کـه مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با جمعـی از علماء و بزرگان منطقه مارچاغ ولسـوالی بالامرغاب ولایت بادغیس دیدار نمود.

در این دیدار، نخسـت مولوی سـید اسـحق و مولوی عاشور به نمایندگی از دیگران صحبت نموده حمایت مردم این منطقه را از امارت اسلامی اعلان کردند... ص۷

هندي رسنۍ

## افغانستان کې د هند نیمګړې پروژې بیا پیلېږي

شـریعت: هندي رسنیو خبر ورکړی، چې په افغانستان کې د هند د نیمګړو پروژو د بیا پیلولو په اړه خبرې او هڅې رواني دي.

هندي رسنیو ویلي، چې د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د هند د ۵۰۰ پروژو کارونه د بېلابېلو دلایلو له مخې درول شـوي دي. د دغو راپورونو پر بنسټ، تمه ده چې هند به د دې پروژو د کار د بیا پیلولو لپاره یو پلان... ۷مخ

## د ۴۰ کلنې جګړې د معلولو او فلج شویو جنګیالیو د پالنې او ارزونې مرکز پرانیستل شو

د ملي دفـاع وزارت له لوري تیره ورځ پـه پلازمېنه کابل کې د تېرې ۴۰ کلنې جګړې د معلولینو او فلج شویو جنګیالیو د پالنې او ارزونې مرکز پرانیستل شو.

د ملي دفاع وزارت د سـتر درستیز د روغتیایي چـارو قومندان ډاکټر محمد طاهر احـرار د یاد مرکز د پرانیستې په مراسـمو کې وویل، چې په دغه مرکز کې معلولینو ته د دیني، عصري او حرفوي زده کړو زمینه هم برابره شوې ده.

په یـاد مرکز، کـې معلولینو ته د خیاطۍ، بوټ... ۷مخ




د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سرپرست

## هیچا ته اجازه نه ورکوو، چې دولتي جایداد غصب کړي

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سرپرست مولوي عطاالله عمري بغلان ته د خپل سفر په ترځ کې د دغه ولایت له والي... ۷مخ



## آغاز روند توزیع پول نقد برای هزاران خانوادهٔ نیازمند در نیمروز

شریعت: روند توزیع کمک نقدی برای بیش از چهار هزار و پنج‌صد خانـوادهٔ نیازمند در نیمروز آغاز گردید.

این کمک نقدی برای چهار هزار و ٥٥٤ خانواده نیازمند از سـوی برنامه غذایی جهان و موسسـهٔ «فراداتـا» به همکاری ریاسـت اقتصاد... ص۷

د شریعت ځانګړی راپور

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ۵۰۰ زره یتیمان او معلولین ثبت کړي

### یاد وزارت هر یتیم ته دوه زره افغانۍ میاشتنی معاش ورکوي

د شـهیدانو او معلولینو چارو وزارت وایي، د معلولینو او شـهیدانو کورنیو ته یې د تیرو شپږو او څینو ته یې د تیر یوه کال معاش ورکړی دی. د شهیدانو او معلولینو چـارو وزارت وایي د تیر حکومت د یتیمانو او معلولینو په ګډون یې تولو ته او څینو ته د تیرو شـپږو او څینو ته یې د یـوه کال مالي امتیازات ورکړي دي... ۷مخ



## سرمقاله

## بهرنیو مرستندویه ټولنو ته باید واضحه تګلاره ورکړل شي!

اوس یقیناً هغه وخت رارسـیدلی چې د بشـري مرسـتو پـه نامه ګرد سـره فعالیتونه په کلکه وڅارل شـي، بریدونه ورته وټاکل شـي او یوه واضحه تګلاره ورکړی شـي. که څه هم نړیوال توب ته منسـوبو غربي مرسـتندویه ادارو پرنیت و اراده بې له شـکه له پخوا راهیسې د زیاترو افغانانو سـرخلاص دی او د اسـلامي امارت مشـران خویې په ناوړه موخو لا ډېر ښـه پوهېږي، خودا چې حکومت نـوی او لا د عایداتي سـرچینو حسـاب- کتاب ښـه نه و معلوم نو فیصله پر دې وشوه چې ترڅه مودې هغوی ته د فعالیت ازاده اجازه ورکړی شي، مګر اوس چې د هېواد پرګردو اقتصادي مدارکو کنټرول او تنظیم ترلاسـه شوی، د تېر اوړي بارانونو د وچکالۍ اغېزې هم راکمې کړې او د نظام اسـتحکام او ثبات د خصوصي سـکتور فعالیتونه هم څـه ناڅه روحیه ورکړې، همدغو دلایلو ته په کتو پرته له شـکه اوس هغه وخت راغلی چې نور نو افغـان ملت د پردیو له پیغوره ډکو بسـپنو او چندو پر موضوع خپل چلنـد کاملاً بدل کـړي. مطلب نور باید هغوی ته پـه صفا ټکو وویل شي چې تردې وروسته د دسـترخان اوکاسې خیرات نه غواړو، نوکه رښـتیا موږ سره خواږي کوئ او زموږ پربې زولۍ مو خوا بده وي، اول زموږ خپلې پیسـې را خلاصې او لګېدلـي بندیزونه مو ختم کړئ. دغه راز که رښـتیا کوي نو باید موږ سـره د روغتیا، تعلیم، چاپېریال ساتنې یا داسـې نورو انکشـافي برخو کې مرسـته وکړي څو افغانان د خپلو لاسـونو په تناکو سـره تولیدي منابعوته پرمختګ ورکـړي،د پردیو له احتیاجه خلاص او پرځان بسیا شي. په هر صورت ښکاره ده چې پردي هیڅکلـه هم د افغانانو په کور کې نظم، ټیکاو او بسـیاکېدل نه غواړي بلکې همېشـنی ارمان یـې دادی چې د افریقایانو پـه څېرېې تل ترتله بې وزله، وږي او خیرات خواره وسـاتي. حقیقت دادی چې هرکله هم ښـکېلاکګرډیو ملت پروژلو اوځپلو سترې شـي نو بیا د همدغو بشري مرسـتو په زړه سـواندوندو نومونو هغه زهر ورکوي چې ابداً بیا د کار، ژوند او همت ملاونه تړلی شي او تر قیامته د دوی څیره خواره پاتې وي ښـایي اوس مهال زموږ لیري کلیوالو وګړو ته هم په تجربو ثابته شـوې وي چې تیر څه باندې یو کال راهیسـې یادو بشري مرستو د هغوی پر ژونـد څومره مثبت اغېز کړی او له اخلاقي پلـوه یې څومره ټیټ کړي دي. په دې اسـاس دانو اوس د حکومت ذمه واري ده چې خپل ملت پـه څه ډول د هلاکت له دغې کندې ژغوري او د یو سـوکاله، پرځان بسـیا اوپتمن ژوند لورته یې بیایي. بل پلو عام ولس هم باید پردې قانع اوسـي چې د بشري مرستندویه ټولنو پر... ۷مخ

عمر داسې امیرالمؤمنین ؤ!! ۲مخ

د کار خلک تر سخت فشار لاندې وي ۳مخ

د هیواد عظیم محسن؛ ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ٤ مخ

## پکتیکا کې ۹ ټنه تاریخ تېر توکي وسوځول شول

شریعـت: د پکتیـکا د صنعـت او سوداګرۍ آمریت مسـوولین وايي، چې د دغه ولایت د سروبی، برمل او شکین ولسـوالیو له هټیو څخه ۹ ټنه تاریخ تېره خوراکـي او غیر خوراکي توکي راټول او وسوځول شول.

د پکتیکا د صنعت او سوداګرۍ آمر ملا ښادي خان حسین حیدر وویل، چې د دغه ولایت د صنعت او سوداګرۍ د تاریخ تېـره خوراکي توکو د مخنیوي کمېسیون به د ولایت په ټولو ولسوالیو کې څارنه وکړي او هر ډول تاریخ تېره خوراکي او غیر خوراکي توکي به راټول او وسوځول شي.

## آغاز کار اعمار پنج ذخیرهٔ بزرگ آب به هزینهٔ دوصد هزار دالر در فراه

شـریعت: به هزینهٔ دوصد هزار دالر امریکایـی، پنـج ذخیره بـزرگ آب آشامیدنی در ولسـوالی بالابلوک فراه ساخته‌می‌شود.


مفتی محمد نسیم سرهنگ رئیس ادارهٔ احیا و انکشاف دهات... ص۷



## اروزګان کې ۲۰۰ جریبه ځمکه له غصب څخه خلاصه شوه

د اروزګان په مرکز ترینکوټ ښار کې د غصب‌شویو ځمکو د مخنیوي کمېټې له لوري ۲۰۰ جریبه ځمکه د غاصبینو له منګلو څخه خلاصه شوه.

د باختر آژانـس د خبر له مخې؛ یاده ځمکه د مرکز ترینکوټ د درافشـان سیمه کې د غاصبینو له لوري غصب شـوې، چې تېره ورځ د غصب شویو ځمکو د مخنیوي کمېټې... ۷مخ




## کندز کې د ۱۵ میلیونو افغانیو په لګښت یوه پروژه بشپړه شوه

شریعت: د پنج آمو سـیندیزې حـوزې مسـوولین وايي، چې د دغـه ولایـت په علـي آباد ولسـوالۍ کې د شـاوخوا ۱۵ میلیونو افغانیو په لګښـت د یو کانـال، ژورې خـاه او د اوبو زېرمې چارې پای ته ورسېدې.

د پنج آمـو سـیندیزې حوزې عمومي ریـس انجنیر رفیع الله مجتبی وویـل، چې د UNDP سازمان په مالي لګښت د کندز په علي آبـاد ولسـوالۍ کې د شـاوخوا ۱۵ میلیونو افغانیو په لګښت د یو کانال، ژور کوهي او د اوبو زېرمې چارې بشـپړې شوې... ۷مخ

## د کندهار جامعه عمر افتتاح شوه

شـریعت: پرون د جمعـې په ورځ د کندهار پـه جامعه عمر کې د پیر طریقت شـیخ‌الحدیث والتفسـیر الحاج مولـوي حبیب‌الله حقاني صاحب حفظه‌الله په امامت رسماً د جمعې لمونځ اداء کړل سو، چې کندهار والي حاجي محمدیوسف وفـا، د امربالمعـروف او نهـي عن‌المنکـر رئیـس شـیخ‌مولوي عبدالرحمن طیبي، د ګڼو نورو ادارو مسـئولینو او د ښـار او ولسوالیو په لسګونه اوسـیدونکو پکښې برخه واخیسته... ۲مخ



# د مؤسساتو اهداف!

مېا نورآغا

غـربي نړۍ بالخصوص يهود په نړۍ د فکـري او ظاهري حاکميت په لټه کې دي.
د دې هدف په تر لاسه کولو کې له ډېرو لارو چارو څخه کار اخلي چې د دې له جملې څخه يوه مؤسسـات دي.
دوی د نورې نړۍ بالخصوص مسـلمانانو د اقتصاد ځپلو ، د هغوی پـه اقتصادي منابعو بانـدې د قبضې او د مسـلمانانو محتاج کولو لپاره زيات پرګرامونه په کار اچوي.
چــې کله هم په يو ځای کې د دوی لخوا فقر او غربت مسـلط شي بيا د ځايي حکومـت کنټرولو او تابع کولو لپاره:
۱- داســې سـودي قرضي ورکوي چې هغوی يې نشې ادا کولی او دا سـود د وخت په تيريدو لوړيږي تر دې چې ځايی حکومت ټول اقتصادي پرګرام دوی ته وسپاري.
۲- مشروط کومکونه کوي چې شرائـط يې د هغوی تابع کولو لپاره وي.
۳- پـه ټاکنـو کې لابي ګيري کـوي تر څو د دوی د خوښــې او د شرائطـو برابر پرټوکولي کانديد منصب ته ورسـوي او خپل اغراض پرې حاصل کړي.
دا ټولــې کړنې په هيڅ بادرکه او با احساســه پټې نه دي، په لرې او نژدې کې زيات مثالونه لري.
او د عوامو د بې لاري او کنټرول لپاره مؤسسـات په کار اچوي چې په دې سره دوی څو اهداف تر لاسه کوي:
۱- جاسـوسي: دوی پــه هر ځای کــې ګرځي د خلکـو افکار او طبائـع معلومه وي او کار پرې کــوي، د دوی فکر ته نژدې او لرې معلوموي او په اړه يې مناســب تصميم نيسي، د رعيت او حکومت تر منځ واټن ايجادوي.
۲- د حکومــت او رعيت تــر منځ واټن: دوی چې کلــه حکومتونه کمزوري کړي او بيا د خپلو شرائطو مطابق سودي قرضونه ورکړي، د دوی يو مهم شرط پــه اولي ضرورتونو قوي ګمرک اوټکس لګول دي چــې له دې سره رعيت فقر ته رسـيږي او خپل ضرورتونه نشي پــوره کولی، په دې وخت مؤسســات بيا د مرســتو لپــاره رامخ ته کيږي، مؤسســات په دې مرسـتو سره عوامو ته ځانونه خواخوږي معرفي کوي او حکومت د دوی دښــمن معرفي کوي، عوام هم لنډ فکر کوي: د دوی په مرســتو او د حکومت په ټيکسونو فيصله کوي.
عوام اوږد فکر نه کوي د ټيکســونو شاليد او د دوی ظاهري مرستې نــه څيړي، لــه دې امله د رعيت او حکومت تر منــځ واټن زياتيږي بدبيني پيداکيږي او آخر خبره بغاوتونو ته رســيږي.
۳- فحشــاء: د مؤسســې د کارکنانو د جلب لپاره لــه ځايي خلکو څخه ښايســته پيغلې او ښــځې په لوړ معــاش سره ګمارل کيږي له دوی سره بــا اســتعداده ځوانان جلب کيږي او بيــا د دوی تر منځ يــو مخلوط نظام پر مخ بيول کيــږي، دا ځوانان او انجونې د دوی په تشــکيل کې په فحشــاء مبتلی کيږي او د دوی په واسطه د دوی کورنۍ او د عوامو تر منځ دا منحوس ترتيب عملي کوي، ښـځو ته د ازادي تر نامه د فحشــاء ، عرياني او هيجاني انګيزه ورکول کيږي.
په نتيجه کې معاشره فاســده او د دوی د منحوسو افکارو په دام کې ګير کيږي. يوه فاحشــه او فاسده معاشره او ټولنه هيڅ کله خپل ازاد مســير نشي ټاکلی او نه هم خپله ازادي، حريت او اســتقلال ساتی شي. دوی خپــل عقائد، نظريات او عنعنات له لاســه ورکوي او په هر اړخيزه توګه په پردۍ پس خورده شــوخند وهي.
اللهم انا نسـألک الهدا التقی و العفاف و الغنی!

# عمر داسي اميرالمؤمنين ؤ!!

ژباړه : عابد مجاهد

مؤرخين وايي عمر رضي الله عنه چې په سـختۍ او قهر مشــهور و، په ښار کې خلکو ته د خوراک تهيه کوونکی بلل کېده ، يوه ورځ يې يو سـړی وليد چې په کينې لاس خوراک کوي، له شـا ورته راغی ويې ويل : د الله بنده! په ښــې لاس خوراک کوه! سړي ورته وويل : ښــی لاس مې مصروف دی .
عمر رض ورتــه خبره دوه ځله بيا تکــرار کړه، هغه هماغه ځواب ورکاوه، اخــر عمر رض ورته وويل: پــه څه شي مصروف دی ؟ ســړي وويل : د موته په غزاکې يې ټپ خوړلــی اوس له حرکته لوېدلی !!
عمر رض په ژړا شــو ورسره کېناست او دا پوښتنې يې تــرې پيل کړې : اودس څــوک درکوي؟ جامې دې څــوک در وينځــي ؟ سر دې څنګــه مينځې ؟ او ....او ...له هرې پوښــتنې سره به يې اوښــکې بهيدې !
بيــا يې ورته د يــوه خادم، ســورلۍ او خوراک امر ورکړ په داســې حال کې چې بار بار يې ښــنه هم ترې غوښــته چې ده ته يې دداسې ملامتۍ په متوجه کولــو تکليف ورســاوه چې دده هيــڅ اختيار پکې نه و .
په دې ډول د جګړې د معلولينو قانون صادر شــو
يــو ســپين ږيری ســړی يــې وليــد چې ډېــرې يې بارولــې، ترې ويې وپوښــتل : دغه درونــد کار ته کــوم څه اړ کــړی يې ؟ هغه ځــواب ورکړ : زه يو يهودي يم او زه بايد جزيــه ورکړم، هغه ورته وويل : تا په ځواني کــې مونږ ته جزيه راکړې، اوس بايد مونږ ســتا کفالت وکړو، دومره مياشــتنۍ تنخوا يې ورتــه مقرره کړه چې بس يې شي .
فاروق کور ته راګرځي تــر څو وليکي چې د ټولنې د تنظيم لپــاره دغه مصوبه د اجرايــوي ارګان لخوا تصويب او عملي شي .
په دې ډول د ټولنيز تضمين قانون جوړ شــو .
فاروق رض پخپله د شــپې ګشت کوي ګوري چې د يوه ماشــوم د ژړا غږ يې تر غوږ شــو،کور ته ور نــږدې کيــږي او پوښــتنه کوي چې په ماشــوم څه شوي ؟
د ماشــوم مور يــې ځواب کــوی چــې : ښلوم يې اميرالمؤمنين !
تــر څو وښــيي چې دا خــو عادي خبره ده ماشــوم چــې کلــه مور لــه پيو بيلــوي نــو ژاړي، خو عمر رض نه تــرې تيريږي چې خپلــه لار ونيسي، بلکې ځانته معلوموي چې مور ماشــوم لــه وخته مخکې بېل کړی تر څو هغه ســل درهمه ترلاســه کړي چې ماشــوم ته د بيت المال له خــوا هغه وخت ورکول کېــدل چې له پيو بېل شي .
عمــر فاروق کور ته راځــي د دې لپاره نه چې ويده شي، ځکه د ماشــوم چيغې يې دمــاغ اوزړه ارام ته نه پرېږدي، نو امر صادروي چې له دې وروســته به ماشــوم ته له زېږېدو سره سم معاش مقرېږي ، نه د پيو له بېلوالي وروسته .
دا امر په داسې قانون بدليږي چې د ماشوم دحقوقو ســاتنه کوي او له وخت مخکې لــه پيو د بېلوالي له خطرونو پرې ژغورل کيږي .
د ماشــوم دحقوقو قانون په دې ډول جوړ شوی .
په حــضرت عمر فــاروق رض خپــل ورور زيدبن خطــاب ډېر ګــران و نوموړی د زکات لــه منکرينو سره په جګړو کې شهيد شوی و ، يوه ورځ د مدينې په ښــار کې د خپل ورور له قاتل سره مخامخ شو، هغه اوس مســلمان شــوی و او دده درعيت يو فرد و .
عمر فاروق ورته په غوســه کې وايي :
په ولا چې تر څو ځمکه تويه وينه خوښــوي ترهغو به مې بد ايسې !
باندہ چي ســړی په انديښــنه کې تر پوښــتي چې : نــو ايا دا مې له حقوقو څه کمــوي اميرالمؤمنين ؟!
هغــه ورته ډاډ ورکوي او ورته وايي چې : نه!
اعرابي ترې په بې پروايۍ ځي او وايي : ته دښــځو په مينه افســوس کوې! يعنی داچې زما اوستا ترمنځ خو حقوق او مسؤليتونه دي زه دې ښه ايسېدل اونه ايسېدل څه کوم !!
اميرالمؤمنيــن نــه په غوســه کيږي او نــه يې بندي کوي بلکې د اعرابي دجرأت او بې پروايۍ غوســه زغمي او خپله لار نيسي .
دا کار يــې يواځــې او يواځې اعرابي تــه د بيان د آزادۍ دحق په قائلېدلو او په قدرت کې دغوســې د زغملو په خاطر وکړ .
پــه دې ډول په ټولنه کې د بيان دازادۍ حق رامنځته کيږي
يــوه ورځ پــه جومات کــې دجمعې پــه ورځ يوې ښــځې داميرالمؤمنين لقب ترې واخيســت او ورته ويې ويل : عمره! غلط شــوې !
يوه عادي ښــځه دمهــر هغه قانــون لغوه کوي چې عمر فاروق جوړ کړی
اميرالمؤمنين لويي نه کوي، نه ښــځې ته د بند ســزا ورکــوي نه يې پــه درو د وهلو امر کــوي، بلکې په خپلــه غلطي په صريحــو الفاظو اعــتراف کوي او وايــي (أخطاء عمــر وأصابــت امــرأة) بيايې خپل قانــون بېرته واخيســت اود مهر د ټاکلــو اندازه يې خلکو ته پرېښــوده چې هر څومره ورکولای شي .
په دې ډول يې دښــځې د حقوقو مراعت و
عمر رض به دســهار له لمانځه وروسته ابوبکر رض څاره هغه په دې خبر شــوی چې ابوبکر رض دښار اطرافــو ته ځــي او يوه کورتــه د څو ســاعتو لپاره ننوځي ، شــپې ورځې تېرېدې او خليفه به دغه واړه کورته ورته، عمــر رض وپتېيله چې يوه ورځ به هغه وخــت له دغه کوره ليدنه کوي کله چې ترې ابوبکر رض ووزي، تر څو معلومه کړي چې دا څه راز دی چې دوخت خليفــه دغه عادت ته دوام ورکړی، په همدغســې يوه ورځې کور ته پــه ورتلو ګوري چې يوزړه ړنده بوډۍ پکې ناســته او حرکت هم نه شي کــولای ، نو پوښــتنه يې ترې وکړه : دا ســړی چې دلتــه راځي دلته څــه کوي ؟ هغې ځــواب ورکړ : پــه والله چې نه يې پېژنم خو هر ســهار راځي کور راتــه پاکوي جارو کوي يې، خــوراک راته تياروي او بېرته ځي ..
د دې خبرې په اورېدو عمر رض سمدستي په ګونډو کښيناســت، ســترګې يې له اوښــکو راډنډشوې او خپله هغه مشــهوره مقوله يې لــه خولې راووته چې ابوبکره! له ځانه وروســته خلفاء دې ستړي کړه .
قوانين داسې جوړيږي
نــه زمانه بدلــه ده اونه خلک خو خــبره داده چې په مونږ کې (عمر) رض نه شــته .

# د دوبــۍ د پــر مختـــګ راز او څـــو درسونه!

اسد مبارز

دوبۍ يوازې په څلوېښتو کلونو کې د شګو ډک وچو صحراوو څخه د نړۍ دولسم مالدارهېواد شو؛ ډېر ملګري ممکن فکر وکړي چې د دوبۍ پر مختګ کې د تيلو ستره ونډه ده اماً حقيقت دادی چې د دوبۍ په اوسني GDP کې يوازې يو سلنه د تيلو ونډه ده او د تيلو ذخيره يې په نړۍ کې اوم نمبر باندې حسابېږي؛ تيل د پر مختګ يوازينۍ دليل نشي کيدای ځکه د تيلو لومړۍ ډېر ذخيره لرونکی هيواد وينزويلا دی چې همدا اوس په اقتصادي لحاظ له سخت حالت سره مخ دی، د انفلاسيون کچه يې په نړۍ کې ساری نلري خو دوبۍ کې بيا د نړۍ له غوره ۵۰۰ کمپنيو څخه يې ۱۴۰ دلته خپل فعاليت کوي او د نړۍ سوداګريز مارکيټ ګڼل کېږي. دوبۍ دا پر مختګ څنګه وکړ؛ کومې پريکړې يې ددې پر مختګ باعث شــول؟ دا او دېته ورته پوښتنې په دې ليکنه کې د جوابولو هڅه کوو تر څو ترې افغانستان لپاره څو درسونه زده شي چې په عملي کولو يې دلته هم پر مختګ ته لار هواره شــي. دوبۍ له ۱۹۶۰ وړاندې له شګو ډکې صحراوې وې؛ دومره وروسته پاتې هېواد وو چې له يو ښار بل ته سفر پر اوښانو کيدل. په ۱۹۵۸ کال کې په لومړي ځل دوبۍ د تيلو د استخراج پيل وکړ چې څلور کاله وروسته يعني په ۱۹۶۲ کال کې يې لومړۍ جو په تيل برطانيه ته صادر کړل؛ يو تصادف دا وشو چې د تيلو بيې په ۱۹۶۰ مو کلونو کې ډېرې لوړې شوې چې له صادراتو يې په ميليونونو ډالر دوبۍ ته راغلل. د تيلو استخراج په وخت کې د دوبۍ حاکم شيخ راشد بن سعيد المکتوم وو چې د استخراج خبر ويلو سره يې خپل ولس ته وويل «مونږ تاسې ته ښه او بد دواړه خبرونه لرو؛ هغه دا چې تيل مو استخراج کړل خو تيل زيات نه دي». د شيخ راشد دې جمله کې يوه خبره له ورايه ښکاري؛ هغه دا چې يوازې په تيلو تکيه نشو کولی، نورې لارې چارې يا عايداتي سرچينې به هم لټوو تر څو پرې وپايو او دې شيخ بالکل همداسې وکړل. شيخ راشد لومړۍ د دوبۍ ستراتيژيک موقعيت ته متوجه شو چې له دې موقعيت څخه د ګټه اخيستنې لپاره يې د «جبل علي» بندرګاه جوړه کړله؛ دا ځای د نړۍ سوداګرۍ لپاره ډېر مهم دی ځکه د منځنې ختيځ هېوادونو سره ډېر نږدې دی او له ايران او فارس اوبو ته لار لري. له بل پلوه دا دومره ستراتيژيک موقعيت لري چې عربي سمندرګي او هند سره نښلوي او د مرکزي آسيا هيوادونو له لارې روسيې، يوکراين او اروپا او بل پلو افريقا ته رسېږي. ددې بندرګاه موقعيت دومره مهم دی چې د اوبو او هوا دواړو له لارې پورته ســيمو ته نږدې لاسرسی لري. د يوه راپور له مخې هغه وخت دې بندرګاه نږدې يو ميليارد وګړو ته لاسرسی درلود. ددې بندرګاه جوړولو لپاره شيخ ډېر پور وکړ تر څو له بندرګاه څخه شګه لرې کړي چې محکم اوژور بندر جوړ کړي تر څو د اجناسو لېږد رالېږد لپاره زمينه جوړه او د نړۍ سترې سوداګريزې بېړۍ يې ورته مهيا کړلې. نن د جبل علي بندرګاه د نړۍ مهم لوجستيکي مرکز ګڼل کېږي او د لوجستيکي خدماتو سربېره يې د سړوخونو سهولت هم برابر کړی تر څو د ژر خرابيدونکي اجناس او يا هم د دوا، آرايشي توکي او جاکليټو په شمول مهم توکي پکې وساتي. نن د جبل علي بندرګاه د نړۍ نهم مصروف ترينه بندرګاه ګڼل کېږي او د کال په اوږدو تر ۱۴ ميليونه کانټېنرو ته لوجســتيک خدمات وړاندې کوي. د ۲۰۱۸ کال راپــور له مخې خام تيل د دوبۍ يوازې يو فيصد GDP جوړوي خو جبل علي بندرګاه څخه ۷ سلنه GDP لاسته راوړي. دويمه ســتره پريکړه چې شيخ راشد په ۱۹۷۶ کې وکړله هغه د فري زون (Free Zone) پريکړه وه چې له مخې يې د نړۍ سترې کمپنۍ دوبۍ کې فعاليت ته تشــويق کړلې؛ د فري زون پريکړې له مخې هره کمپنۍ چې دوبۍ کې فعاليت پيلوي نو څو ګټې کوي:
*سل سلنه ملکيت خپلولی شــي او هيڅ اړتيا نشته چې دوبۍ کې د فعاليت لپاره کومې داخلي کمپنۍ سره شراکت وکړي؛
*سل سلنه ګټه او ســرمايه بېرته خپل هيواد ته ليږلی شي او هيڅ ډول ممانعت په دې برخه کې نشته؛
*سل سلنه د صادراتو او وارداتو ګمرکي تعرفه معاف او
*سل سلنه د عايد څخه ماليه معاف
پورته پريکړې په خپل وخت کې بې ســابقې وې؛ هيڅ هيواد داســې پريکړه نه وه کړې چې خارجي کمپنۍ ته دې دومره آســانتياوې برابرې کــړي. دوبۍ ظاهراً او په لنډمهال کې په دې پريکړه ډېره ګټه نه کوله اما غوښتل يې تر څو په دې پريکړې د نړۍ سترې کمپنۍ دوبۍ کې فعاليت ته تشويق کړي چې لس کاله وروسته پرې که هر څومره ماليه او ګمرکي تعرفه وضع کوي نو دوی به يې په خوشالۍ سره ادا کوي. هماغه وو چې د نړۍ له ۵۰۰ سترو کمپنيو څخه د ۱۱۴ کمپنيو د اپيل، ګوګل او ټيسلا په شمول خپل فعاليت په دوبۍ کې پيل کړل.
دريم ستر او عُمده دليل د سياحت (Tourism) سکتور ته وده ورکول وو؛ دوبۍ د شل څخه تر پنځوسانتي ګريډ ګرم هيواد د نړۍ د سياحت ســتر مرکز باندې بدل کړل، ستر ستر بلډنګونه او لوی لوی سړکونه يې کړل، پارکونه، پنځه او اوه ســتوريز هوټلونه او حتی د واورو پارکونه يې هم جوړ کړل چې د سياحيتو توجو يې ځانته جذب کړله. ددې هر څه سربېره يې ورزشــي پارکونه او بالخصوص د کرکټ لپاره ستر لوبغالي جوړ کړل تر څو له هر ممکن لارې خلک جذب کړي. پورته دريو سترو پريکړو د دوبۍ پر مختګ کې د پام وړ برخه اخيستې.
د افغانستان موقعيت هم له ستراتيژيک پلوه ډېر مهم دی او مرکزي آسيا له جنوبي آسيا سره نښــلوي؛ که لږ له هوښيارۍ او نړۍ سره د تعامل سياست خپل شي نو افغانستان به د اتصال مرکز وي چې يوازې د ټرانزټ له عايد څخه د افغانستان عادي او انکشافي بوديجه پوره کيدلی شي.
دويم ستر درس چې د دوبۍ له پر مختګ زده کولی شو هغه افغانستان ته د سياحينو جذبول دي؛ افغانستان ډېر طبيعي ښکلي او سرسبزه سيمې لري، پخوانۍ تاريخ او د بودايي دين ډېر پاتې شوني لري چې يو وخت يې د نړۍ له مختلفو سيمو څخه سياحين جذب کړي وو. اوس هم دا کار کيدای شي خو که لږ له سياسي درايت څخه کار واخيستل شي.

## د کندهار جامعه عمر...

تر لمانځه مخکې په همدې موخه جوړ ســوي مراسم د مولوي دادالله مؤذن لخوا د قرآن کريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت ســره اپيل شول، چې تر هغه وروسته د کندهار د امربالمعروف او نهي عن المنکر رئيس شــيخ مولوي عبدالرحمن طيبي وويل، موږ ټول بايد د الله جل جلاله شکر اداء کړو، چې د الله پر ځمکه يوځلي بيا اسلامي او شرعي نظام حاکم سو او په افغانستان کې د الله جل جلاله په نصرت سره لويه فتحه راغله، چې په خبره ئې ددې شرعي نظام د حاکمېدو په برخه کې ډېرې قربانۍ ورکول ســوي او اوس بايد ټول مسئولين او ولس په خپله اړونده برخه کي ددې نظام د ټينګښت او دوام په موخه خپل مسئوليت اداء کړو.
شيخ مولوي عبدالرحمن طيبي د جامعه عمر په اړه وويل: "دا د اسلامي امارت د ټولو مسئولينو او ټول ولس يو لوی ارمان وو، چې ددې لويي او برکتناکي جامعې پرانيستنه وسي او رسماً پکښې لمونځ اداء کړل شي، نن يوه لويه تاريخي ورځ ده او زموږ او ولس لپاره ډېر د وياړ ځای دی چې په دې جامعه کي د جمعې لمونځ اداء کوو."
ورپسې د جامعه عمر امام او خطيب پير طريقت شيخ الحديث والتفسير الحاج مولوي حبيب‌الله حقاني صاحب حفظه‌الله خبرې وکړې. هغه وويل، موږ ته الله جل جلاله ډېر نعمتونه راکړي دي، چې د يادو نعمتونو له ډلې يوه هم دا جامعه ده، چې نن يې رسماً پرانيسته وسوه او د جمعې لمونځ پکښې اداء کړل شو او هم يې ددې جامعې د بيارغونې په برخه کې له اړوندو مسؤلينو او تجارانو څخه ځانګړې مننه وکړه.
شيخ الحديث والتفسير مولوي حبيب‌الله حقاني صاحب د خپلو خبرو په دوام زياته کړه، ټول مسئولين ددې ځوربدلي ولس خادمان يو او موږ د حکومت لپاره نه؛ بلکي د ولس د خدمت لپاره يو.
ياده تاريخي جامعه چې په تيره دوره کې د اســلامي امارت د مؤسس عاليقدر اميرالمؤمنين ولي کامل بت شــکن ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله يې د بنسټ ډبره ايښې وه، د فتحې وروسته د محترم مشرتابه مقام حفظه الله پــه ځانګړې هدايت د کندهار د والي په لارښــونه د سکتوري رياست تر نظارت لاندې د بيارغونې چارو جريان درلود چې لاهم رواني دي. وروســته د شيخ مولوي حبيب‌الله حقاني په امامت لمونځ ترسره او دُعا وشوه.



## د ښځو نوي مسئلې

لیکوال: مفتي صادق شاه(فاضل دارالعلوم کراچی) / ژباړن: ساجدالله / نولسمه برخه

### د ښځو لپاره په لیلیه (هاستل) کې اوسېده بیخي نامناسب دي

ځینې جینکۍ د ښوونځي او پوهنتون په لیلیو کې هستوګنه کوي. همدارنګه یو شمېر طالبانې د مدرسې په هستوګنځیو کې شپې تېروي. چې په دې کې ډېرې بدۍ او نیمګړتیاوې دي، له دې امله په دې صورت کې هیڅکله هلته اوسېدل نه دي په کار. مېندو او پلرونو ته لازم دي چې په نږدې ښوونیزو مراکزو کې خپل اولادونه شامل کړي، چې په اسانۍ تګ راتګ کولی شي. جینکیو ته په داسې ځایونو کې زده کړه او تحصیل نه دی پکار، چې هلته د شپې تېرول راځي زده کړه او تعلیم د اخلاقو د زرینولو (ښه کولو) لپاره وي. په ښوونیزو مراکزو کې د هستوګنې له امله ډېری وختونو کې اخلاقي نیمګړتیاوې او خرابیانې پیداکیږي، بلکې د جینکیو او هلکانو ترمنځ د اختلاط او راشه درشې څخه اشنایي، بیا له کوره تېښته او نورې پېښې رامنځ ته کیږي، چې پر اساس یې تعلیم او زده کړې بې ګټې او د میندو او پلرونو د پرېشانۍ سبب شي. نو ځکه په دیني تعلیمي مراکزو کې هم په هستوګنه کې احتیاط پکار دی. او په عصري تعلیمي مراکزو کې د چاپېریال خرابتیا یقیني او په مشاهدو ثابته ده، نو هلته د جینکیو او ښځینه وو لپاره د شپې تېرول حرام دي.

لنډه دا چې د ښځینه وو لپاره دیني زده کړې حاصلول اړین دي. دیني تعلیم ته په عصري (دنیاوي) زده کړو لومړیتوب ورکو، د باطني ناروغیو د رغېدو لپاره وي. ځکه دنیاوي زده کړو څخه هدف دنیا ګټل دي او ښځینه وو ته د دنیا ګټلو اړتیا نشته؛ ځکه د هغوی دوډۍ، نفقه او ... له واده مخکې د پلار یا بل سرپرست په ذمه وي او له واده وروسته د خاوند په اوږو وي او که هغه نه وي، اولاد ولري، د هغوی په غاړه دی. غرض دا چې، د ښځینه وو نفقه او لګښت د نارینه وو په ذمه دی، نو له دې وجې دیني تعلیم دې خامخا حاصل کړي او اصلي هدف (د اخرت ژوند) دې زرین کړي او د دنیا په ګټلو پسې دې ځان نه ستړی کوي.

### په نیم لستونو جامو کې د ښځینه وو د لمانځه حکم

د ښځو لپاره په لمانځه کې د ټول بدن پټول ضروري دي، یوازې د مخ، لاسونو او پښو لوڅولو اجازه شته. که لنډ لستوني کمیس باندې یې له پاسه داسې ټیکری (پړونی/څادر) اغوستی و چې ټول بدن یې پټ و، نو لمونځ یې صحیح کیږي. تر مړوندو پورې یا لږ پورته یې لاسونه لوڅ وي، د پلار، ورور او نورو محرمو په مخکې څه پروا نه لري. خو له نامحرم څخه بشپړه پرده لازمه ده. لکه: د تره زامن، ماما زامن، ترور زامن، لېور او نور. که چېرې ښځې ته له کوره د وتلو اړتیا پېښه شوه، نو د پردې لا زیات اهتمام لازم دی.

ــ تنویر الأبصار مع الدرالمختار، کتاب الصلاة، باب شروط الصلاة (۴۰۵/۱) او کنزالدقائق مع السجر الدائق (۴۷۸/۱)

ــ حاشیة الطحاوي علی مراقي الفلاح، باب شروط الصلاة (۴۱۱)

ــ الدرالمختار، کتاب الحظر والاباحة، فصل فی النظر والمس (۳۶۴/۶ ــ ۳۶۹) او فتاوی محمودیة (۳۱۲/۱۹)

### د ښځینه وو د سینګار ځیزونه

دا عامه قاعده ده، کومې جامې چې د نارینه وو لپاره ځانګړې شوې، د ښځو لپاره د هغو اغوستل نه دي روا. کومې چې د ښځو لپاره مخصوصې دي، سړیو ته اغوستل، ناجائز دي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم وایي: پر داسې سړیو او ښځو لعنت ویلی.

کوم کالي چې د کفارو او فاسقانو شعار دی، هغه ټول ځیزونه منع دي، د ځینو بندیز ډېر زیات او د بعضو کم (لږ) دی. هغه ټول دې پرېږدي او د نېکانو (صالحانو) کالي دې غوره کړي.

ــ مشکاة المصابیح، کتاب اللباس، باب الترجل (۳۸۰)

ــ مشکاة المصابیح، کتاب اللباس، الفصال الثاني (۳۷۵) او فتاوی محمودیة، باب اللباس (۳۱۲/۱۹)

### ښځو ته د ساعت په لاس کول

په کوم ځای کې چې د نر او ښځې لپاره ساعت په لاس کول دود وي او د یوه لپاره ځانګړتیا و نه لري، نو د دواړو لپاره یو حکم لري. او په کوم ځای کې چې د نارینه وو لپاره ځانګړی شوی وي او په عام ډول یې ښځینه نه کاروي، هلته د ښځو لپاره ناجائز دی. ځکه چې د ښځو له سړیو سره تشبه کول په حدیث شریف کې منع شوي.

ــ مشکاة المصابیح، کتاب اللباس، باب الترجل (۳۸۰)

### د ښځو لپاره په وېښتانو کې کلیپ ورکول

ښځو ته د سر وېښتانو کې چوټي ګل (کلیپ) ورکول جائز دي، په دې شرط چې ناپاک نه وي او د کافرانو یا فاسقانو شعار نه وي. په اصل کې روا دی، ممانعت یې له کافرانو او فاسقانو سره د مشابهت او ناپاکوالي له امله دی.

ــ اعلاء السنن، کتاب الحظر والاباحة، باب حرمة الذهب علی الرجال (۲۸۹/۱۷)، فتاوی محمودیة (۷۸/۲۴)، باب استعمال الذهب والفضة

### د نارینه نوماند په شتون کې ښځینه نوماندې ته رأیه ورکول

د نارینه نوماند په شتون کې چې د خلکو ښه استازیتوب هم کوي، ښځه په مشرتوب منل او هغې ته رأیه ورکول د شرعې له مخې جائز نه دی. «۱»

فتاوی عثماني (۵۱۳/۳)، کتاب الأمارة والسیاسة (۶)

# د کار خلک تر سخت فشار لاندې وي

امین وردګ

ځینې به دا فکر کوي چې ګني د کار خلک به نو ښه آرام وي آسوده به وي ! خو نه او داسې نه ده؛ د کار خلک تل تر فشارو لاندې وي.

د کار خلک؛ یانې همغه اهل کار خلک.

د کار سړی داسې مثال لري؛ لکه دی چې سندان وي او کار یې څټک ، یا دی څټک فرض کړو او کار یې سندان؛ په هر حال...په دواړو حالو کې اهل کار خلک له ضرباتو او ټکرونو سره لاس او ګرېوان وي.

هغه ونه به مو له لیرې ښه لیدلې وي چې ماشومان یې په ډبرو ولي! خو چې کله نږدې ورشې نو خامخا به له مېوې ډکه وي.

مانا دا چې یوازې هغه ونې په تیږو ویشتل کیږي، په کومو کې چې مېوه وي، نه هغه چې تشې تورې ولاړې دي.

نر توت به د لښتو له امله پېژنئ! (ګواکي فقط وهل کوي) نوره ګټه خو یې ما منې که لیدلې وي.

مطلب د کار سړي، د خبرو سړي او د فکر سړي تل تر فشارونو او سختو ګذارونو لاندې وي.

زموږ ځینې هېوادوال او زموږ ټولنه له فکري اړخه سخت خوار دي! دلته چې یو کس پورته کیږي بل تکیه نه ورکوي (چې له لوېدلو یې وژغوري) بلکې لا یې تر پښو لاندې ځای کني.

ګورئ! هوښیار خلک ترې مستثنی دي! دلته چې هر سړی خدمت ته لږه ملا وتړي، نو تر ټولو مخکې یې خپلوان او ملګري سوټي پسې را اخلي (هسې خلک وایي چې: خپلوان او ملګري...) دلته تل د خپلوانو او ملګرو له خوا کارونه خراب شوي دي.

ګوره! که دې دلته سر څوړ ونیو او غوږونه ځوړند ، نو تر تا بل ښه نشته او که دې چاته وویل چې: مه! بیا به نو د کثافاتو ټول خالي بوتل درپسې تړي.

مشرانو ته پکار ده چې په ځینو مواردو کې څه تحقیق خو کوي که نه ! دلته چې د خائن مخه نیسې نو همغه خائن دنیا خنډونه درته جوړولی شي؛ ځکه چې په دغې زماني مقطع کې ځان مظلوم ګڼي او تا جابر.

دا ټولنه کلونه وخت غواړي چې اصلاح شي؛ ځکه چې کلونه کلونه یې په بې قانونیو کې ژوند کړی.

په حکومتولۍ کې چې له خائنانو سره جوړجاړی ونکړې خامخا زاړه ټیمان درپسې تړي.

موږ ته تعاملي نظام سخت تاوان وکړ! په باربار ما دا خبره کړې هم ده؛ چې تعاملي نظام به موږ ډېر ژر کندو ته کوز کړي.

موږ باید د فساد جرړې په حکمت سره ایستلې وای، که موږ مخکې له مخکې د ښې حکومتولۍ اراده لرلی او همغه وخت مو د سیستم د جوړولو تر څنګ کارمندان هم روزلي وای، نو نن به داسې خوار زار نه وو چې په هر خیرن پسې کاغذونه ځغلوو.

موږ باید خپل سیستم او خپل اهل کارمندان لرلی، خو افسوس چې دا کار مو له لاسه ووت، اوس چې فاسد عناصر تعقیبوو، نو خامخا به تهدیدیږو هم؛ ځکه چې هغوی په تېر یوه کال کې دلته سمې پخې رېښې وځغلولې، نو له همدې امله مو اوس سم زور نه ورته رسیږي.

زه نه پوهېږم چې کله به ویښیږو؟

یو سړی چې په اخلاص او صداقت سره کار او د فساد ورکولو ته ملا وتړي، مفسدین ټول پسې راووزي! خولو او ګوتو ته کش ورکړي، هغه نو چې څو پر متهم کس د تور دروغ او رېښتیا ښکاري؛ دنیا زیانونه واړوي.

زموږ د سپین لښکر دښمنان بیخي ډېر دي او په غربي پنډغالو کې همدغو خبرو ته پراته دي؛ چې څه ډول زموږ اهل او د کار خلک بدنام کړي.

ځکه کوم خلک چې د فساد په رېښو پرېکولو پسې ګرځي، پر هغوی به مفسدین خامخا تورونه لګوي.

له ویدو سره د غلو کار نه وي، خو ویښ به خامخا له مخې لیرې کوي.

په تورو جامو کې تور خالونه یومخ ورک شي، مګر پر سپینو بیا یو هم روڼ او جوت ښکاري.

د موږکو له امله ګدامونه تش مه پرېږدئ، بلکې غارونه یې بند کړئ، یا تلک ورته کېږدئ.

دښمن همدا غواړي چې د تېرو کرغېړنو تاریخونو تکرار ته مو اړ کړي، تورن مو کړي، خفه مو کړي، ګیله من مو کړي او بیا مو دېته مجبور کړي چې تاسو په کورونو کېنئ او دوی بېرته څوکۍ اشغال او اقتدار تر لاسه کړي.

تاسو به د پښتو هغه مشهور متل آورېدلی وي چې وایي ((سپي غپیږي خو قافله تیریږي)).

لومړی وروسته او بیا وړاندې فکر وکړئ! دښمن مو دلته پوره شل کاله هر ډول وحشي حربه وکاروله خو بیا د الله په نصرت سره تاسو مات کړ؛ هغه هم داسې مات چې اوس یې هم له باداره لاره ورکه ده او هم له مزدوره.

مزدورانو ته یې داسې پنډغالي ورکړي چې هېڅ اړخ یې له انساني کرامت سره نه لګیږي، ځکه چې پردي نارینه یې له پردیو ښځینه وو سره یو ځای بې سرنوشته اچولي، چې نه یې خوب آرام دی، نه خوراک او نه هم نور انساني حوائج؛ نو چېرې یې نرمې څوکۍ، لوړ معاشات، فرمایشي هوسانې، لوکس کورونه، لوړ ماډل هیلکسې، لکسیسونه،فور رېنر، مازدیګری د پارک ښهر چکرې، هره دویمه او دریمه مېلمستیاوې او مېلې هیریږي.

تاسو خو له دوی څخه د ژوند ټول ناروا عشرتونه واخیستل! نو څه فکر کوئ چې درته هېر به یې شي؟! مطلب مشران یئ که کشران، زاړه یئ که ځوانان،ښځې یئ که نران؛ نظام ته شاوې مه اړوئ ، حوصلې لوړې ساتئ او خدمت ته ملاوې وتړئ.

تاسو یقین وکړئ چې زه خپل جسارت په مادي توګه دومره متضرر کړی یم چې تصور یې نه کیږي، خو له الله پاک سره مې تر آخري دم پورې پیمان کړی چې حق به نه پټووم او خدمت به نه پرېږدم ان شاءالله.

تاسو هم کوښښ وکړئ چې په نظام کې تر خپلې وسې د مفسدو عناصرو مخه و نیسئ؛ مخکې له دې چې مات مو کړي، مات یې کړئ؛ و یې ځپئ، رسوا او سرکوب یې کړئ.

دوی ته وخت مه ورکوئ ولو که مو د سرونو په قیمت تمام شي.

# د اسلامي ټولنې د جوړښت لپاره د قرآن کریم (۱۰۰) اغېزناک پیغامونه

محمد علي عظیمت / دویمه برخه

۳۱ ــ که تاسو ښکاره خیراتونه (صدقې) ورکوئ، نو دا هم ښه ده او که پټ یې ورکوئ او بېوزلو ته یې ورکوئ، نو ستاسو لپاره غوره ده. (بقره/۲۷۱)

۳۲ ــ مونږ به مسکین ته خواړه نه ورکول. (مدثر/۴۴) د قیامت په ورځ به د مجرمانو اعتراف وي، پکار ده چې په ژوند کې همدا اوس په بېوزلو رحم وکړو.

۳۳ ــ (په ځانګړې توګه د مالي مرستې) مستحق هغه فقیران دي چې د الله جل جلاله په لاره کې داسې مصروف دي چې (د ژوند و ژواک تېرولو لپاره) بیخي په ځمکه کې منډه تره نشي کولی. (بقره/۲۷۳)

۳۴ ــ او هغوی چې کله لګښت کوي، نه بې ځایه لګښت کوي، نه بخیلي کوي؛ بلکې د هغوی کړنلاره (د افراط او تفریط) ترمنځ) منځلاریتوب دی. (فرقان/۶۷)

۳۵ ــ هغه کسان چې خپل مال د الله جل جلاله په لار کې لګوي (نفقه کوي)، بیا له لګښته وروسته منت بارول او ځورول نه کوي. (بقره/۲۶۲)

۳۶ ــ اې پیغمبره! آیا د ابراهیم علیه السلام د عزتمنو مېلمنو واقعه تا ته رسېدلې ده؟ کله چې هغوی ابراهیم علیه السلام ته راغلل، نو هغوی سلام واچاو، ابراهیم علیه السلام هم سلام واچاو (او په زړه کې یې وویل چې) دا څنګه ناشنا خلک دي. بیا هغه غلی کوروالا ته ورغی او یو چاغ خوسی یې راووړ او هغه یې د مېلمنو مخې ته کېښود، ویې ویل: «تاسو خوراک نه کوئ» (ذاریات/ ۲۴ ــ ۲۷)

۳۷ ــ آیا تاسو نورو ته د نېکۍ حکم کوئ او خپل ځانونه مو هېر کړي؟ په داسې حال کې چې تاسو کتاب هم لولئ، آیا تاسو نه پوهېږئ؟ (بقره/۴۴)

۳۸ ــ او په ځمکه کې فساد کوونکي مه کېږئ. (عنکبوت/۳۶)

۳۹ ــ او له هغه چا به لوی ظالم څوک وي، چې د الله جل جلاله په جوماتونو کې (خلک) د هغه له یادولو منع کوي او د وړانولو په هڅه کې یې وي. (بقره/۱۱۴)

۴۰ ــ او د الله جل جلاله په لاره کې له هغو کسانو سره وجنګېږئ، چې له تاسو سره جنګ کوي. (بقره/۱۹۰)

۴۱ ــ او تېری مه کوئ، بېشکه الله جل جلاله تېری کوونکي نه خوښوي. (بقره/۱۹۰)

۴۲ ــ اې مؤمنانو! کله چې تاسو له کافرانو سره مخامخ (او) هغوی پر تاسو یرغل کوي، نو هغوی ته شا مه ګرځوئ. (انفال/۱۵)

۴۳ ــ الله جل جلاله له تاسو سره د اسانۍ معامله غواړي او تاسو ته مشکل پیداکول نه غواړي. (۱۸۵)

۴۴ ــ هغه کسان چې له الله جل جلاله او د هغه له رسولانو څخه منکرېږي او غواړي چې د الله جل جلاله او د هغه د رسولانو ترمنځ فرق وکړي او وایي: په ځینو ایمان راوړو او له بعضو انکار کوو. او (په دې توګه) دوی غواړي چې (د کفر او ایمان په منځ کې) یوه منځنۍ لاره ونیسي. (نساء/۱۵۰)

۴۵ ــ نو د حیض پر مهال له ښځو لرې اوسېږئ، تر څو هغوی نه وي پاکې شوې، مه ورنږدې کېږئ (جماع مه کوئ.) (بقره/۲۲۲)

۴۶ ــ او مېندې دې پوره دوه کاله خپلو اولادونو ته شیدې ورکوي، دا موده د هغه چا لپاره ده چې د شیدو ورکولو وخت بشپړول غواړي. (بقره/۲۳۳)

۴۷ ــ او د زنا لور ته مه راځئ، په باوري توګه هغه ستره بې حیایي او ډېر ناوړه بېلاریتوب دی. (بني اسرائیل/۳۲)

۴۸ ــ (هغو بني اسرائیلو ته) نبي وویل: الله جل جلاله هغه ته پر تاسو فضیلت ورکړی او هغه ته یې په علم او جسم کې له تاسو څخه زیاته پراخي وربښلې. (بقره/۲۴۷)

۴۹ ــ الله جل جلاله هیڅا ته هم د هغه له وسه زیاته ذمه واري نه سپاري. (بقره/۲۸۶)

۵۰ ــ او کله چې دوی (منافقان) له هغو کسانو سره مخامخ شي چې ایمان یې راوړی، وایي: مونږ (هم) ایمان راوړی او کله چې له خپلو شیطانانو سره یوازې شي، وایي: مونږ له تاسو سره یو، مونږ ملنډې وهونکي یو. (بقره/۱۴)

۵۱ ــ بېشکه د اسمانونو او ځمکې په پیدایښت کې او د شپې او ورځې په بیا بیا تلو راتلو کې د عقلمنو لپاره لویې نښې دي.[ ال عمران/۱۹) په کائناتو کې فکر کول.

۵۲ ــ نو د دوی رب جل جلاله د هغوی دعا قبوله کړه (او ورته ویې ویل:) «زه له تاسو څخه د چا عمل نه ضایع کوم، که هغه نارینه وي که ښځینه، تاسو ټول په خپلو منځو کې یوشان یاست.» ال عمران/۱۹۵)

۵۳ ــ پر تاسو باندې ستاسو مېندې حرامې کړل شوې دي؛ لونه مو، خویندې مو، ترورانې مو، توړی ګانې مو، وریرې مو، خورزې مو، ستاسې رضاعي مورانې مو، رضاعي خویندې مو، خواښې ګانې مو او پرکټې مو، چې د هغو (له ګېډووي) او له مورانو سره یې نژدې شوي یاست. هوا! که تاسو له هغوی سره خلوت نه وي کړی. (یا مو هغه ته طلاق ورکړی وي یا وفات شوې وي) نو پر تاسو (د هغو له لونو سره نکاح کولو کې) څه ګناه نشته. او ستاسو د زامنو مېرمنې مو هم پر تاسو حرامې کړې دي.

او دا خبره هم حرامه ده چې دوې خویندې سره یوځای کړئ. البته مخکې چې څه شوي، هغه شوي. بېشکه الله جل جلاله خورا ښښونکی، لوی مهربان دی. (نساء/۲۳)

۵۴ ــ سړي پر ښځو باندې څارونکي (تنظیموونکي) ټاکل شوي دي. (نساء/۳۴)

۵۵ ــ هغه کسان چې په خپله هم بخیلي کوي او نورو خلکو ته هم د بخیلي تلقین کوي او الله جل جلاله چې هغو ته له خپل فضله څه ورکړي، هغه هم پټوي او مونږ دارنګه کسانو ته سپکوونکی عذاب تیار کړی دی. (نساء/۳۷)

۵۶ ــ یا له دې خلکو سره په دې بناء کینه کوي چې الله جل جلاله هغو ته له خپل فضل (ولي) ورکړې؟ هوا! مونږ د ابراهیم کورنۍ ته کتاب او حکمت ورکړی و او هغوی ته مو پاچاهي ورکړې وه. (نساء/۵۴)

۵۷ ــ او خپل ځانونه په خپله مه وژنئ. باور وکړئ الله جل جلاله پر تاسو خورا مهربان دی. (نساء/۲۹)

۵۸ ــ اې مؤمنانو! عدل پلي کوونکي واوسئ. او د الله جل جلاله لپاره شاهدي ورکوونکي واوسئ، که څه هم شاهدي ورکول ستاسو په زیان وي یا ستا د مور و پلار او خپلوانو په تاوان وي. (نساء/۱۳۵)

۵۹ ــ او په ګناه او ظلم کې له یو بل سره مرسته مه کوئ. (مائده/۲)

۶۰ ــ په نېکۍ او تقوی سره د یو بل مرسته کوئ. (مائده/۲)

# د ماشومانو شخصیت جوړونه

ابو الفاتح

د انسان په اروا پورې اړوند یو له مطرحو او اغېزمنو اړخونو څخه، د هغه شخصیت دی. هغه لامل، چې د انسان د ډېرو چلندونو سبب دی او په یوازې توګه باید د هرې کړنې په وړاندې مناسب غبرګون پیدا کړي او دقیقه توجیه وړاندې کړي.

شخصیت د افکارو، احساساتو او چلندونو ځانګړو بېلګو ته اشاره کوي، چې د وخت په اوږدو او په بېلابېلو ځایونو ټینګ ولاړ دي او یو شخص له بل شخص څخه جلا کوي.

ماشومتوب د ژوند داسې مرحله ده، چې د یو انسان ښه او بد اساس جوړوي. که په سمه توګه د مور او پلار لخوا د ماشومانو ښوونې او روزې ته پاملرنه وشي، نوراتلونکی به یې ډېر روښانه، آرامه او اسوده وي.

د ماشومانو د شخصیت جوړولو لومړنی چینل کورنی ده، په دویم قدم کې جومات، مدرسه او ښوونځی دی.د ماشوم شخصیت جوړونه له کورنۍ شروع کیږي، چې په وسیله یې ماشوم د خپلې ټولنې له فرهنګ سره آشنا کیږي او په هغه کې عادتونه او عواطف را منځته کوي، چې شخصیت یې تر اغېزې لاندې راولي.

په ټوله کې د والدینو او یا هم د کورنۍ نورو غړو د فکر بڼه که هر ډول وي، د هغوی په ماشومانو لړ یا ډېر اغیز کوي.

که چیرې د کورنۍ ماحول جوړ وي، کولی شو په اسانۍ سره د ماشوم شخصیت جوړ کړو، د ماشومانو په ښو نومونو سره یادول، په زده کړو کې د هغوی تشویق کول او د هغوی ځینې غوښتنې منل هغه څه دي، چې کولی شي د ماشوم په شخصیت مثبت اغیز وکړي.

دویم چینل د ماشومانو د شخصیت جوړونې لپاره، مدرسه یا هم مکتب دی، چې دلته د ماشومانو د زده کړو مرحله شروع کیږي.

د استاد لخوا تشویق او هڅول ماشومانو ته جرأت ورکوي، له زده کړې سره یې مینه او علاقه زیاتوي، فکر باندې یې مثبت اغیزه کوي.

خو بد بختانه زموږ له کور، ښوونځي او جومات نه نیولې، تر مدرسې پورې ماشومانو ته وهل او ټکول ورکول کېږي، چې ولې درس صحیح نه وایې او یا ولې شوخي کوې؟ ماشوم سره چې خومره په مینه، په خندا، مهربانۍ ، په مستي او ټوکو کې سلوک کېږي، هغومره د ماشومانو په شخصیت جوړولو کې ډېر مثبت اغیز لري.

هغه ټکي چې د ماشوم په شخضیت جوړولو کې اغېزمن تمامیږي:

۱ ـــ د ماشوم د پرځای غوښتنو پوره کول.

۲ ـــ د ناسمو غوښتنو ردول او د هغوی پوهې او درک ته په پام سره د هغوی پوهول.

۳ ـــ د ماشوم نظریاتو ته درنښت کول.

۴ ـــ د ماشوم له پاره د یوه ښه او سالم چاپېریال را منځته کول.

۵ ـــ په ماشوم کې د ښو صفتونو را منځته کول او د هغه د بدو کارونو مخه نیول.

۶- زده کړو ته تشویق کول.

۷- د مشرانو احترام ور ښودل.

۸- په ښو نومونو سره یادول.

۹- د قران کریم ورښودل.

هغه ټکي چې د ماشومانو په شخصیت بده اغېزه کوي

۱- ماشومان په بدو نومونو یادول: ماشومانو ته د خپل نوم یا ښه نوم پر ځای بد نوم اخیستل دوی زړه توري کوي، په شخصیت یې منفي اغېزه کوي او همدارنګه الله تعالی په قران کریم کې فرمایي: تاسو په بدو نومونو سره ویشتل مه کوئ، یعنې چاته بد نوم مه اخلئ، نو له دې نه دا معلومه شوه چې الله تعالی مونږ له دې نه منع کړي یو، چې یو چاته بد نوم واخلو.

۲- د ماشومانو وهل ټکول: د ماشومانو وهل هغوی بزدله کوي، دارن یې اموخته کوي، په ذهن یې بده اغیزه کوي، له زده کړو سره یې مینه ختمیږي او په ټوله کې یې په شخصیت منفي خواته بیایي.

۳- ماشومان له نورو سره مقایسه کول: احمد له تانه تکړه دی، ښه دی او ښایسته دی دا ټولې هغه خبرې دي، چې ماشوم له ځانه زړه توری کوي، شوق او علاقه یې ختموي.

۴- په هره خبره کې د ماشومانو رټل: ماشومانو ته د خبرو موقع نه ورکول او هغوی له خبرو منع کول جرات یې له منځه وړي، چې دغه اثر آن تر لویوالي په دوی پروت وي.

په شخصیت جوړونه کې د قراني زده کړو اغېزې:

قران کریم د الله تعالی هغه سپیڅلی کتاب دی، چې د یو رښتیني مومن په ژوند کې بنسټیز بدلون رامنځته کوي او په عملي کولو سره یې د انسان په فکر او ورځنیو چارو کې جذري بدلون رامنځ ته کیږي او هغه روزنیز سپیڅلی کتاب دی، چې تر قیامت پورې یې اغېز او حیرانونکي معجزات پای ته نه رسیږي.

له همدې کبله ویلی شو، چې د قران تر سیوري لاندې ژوند کوونکی انسان، د یو سپیڅلي زړه او فکر لرونکی وي.

خپل ماشومان مو په قرآني لارښودنو سره وروزئ او دا پر مونږ باندې د هغوی یو د بنسټیزو حقوقو نه اساسي حق دی.

تر څو زمونږ ماشومان په فطري ډول، قران کریم مینه پال را ستر شي.

حضرت عبد الله بن عباس (رضي الله عنه) ما وایي: کله چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) وفات شو، نو زه (۱۰) لس کلن ماشوم وم او ما په خپل دې کوچني عمر کې قران کریم حفظ کړی وو. همداراز په دې اړه امام السیوطي په خپل کتاب طبقاتُ الحفاظ کې د امام شافعي(رحمه الله) دا خبره را نقل کړې ده، چې وایي: قران کریم مې په (۷) کلنۍ کې او د موطا کتاب مې په لس کلنۍ کې حفظ کړ.

دا مثالونه مې د دې لپاره دلته ذکر کړل، تر څو مونږ خپلو ماشومانو ته قران کریم او د نبي کریم(صلی الله علی وسلم) حدیث ور زده کړو، چې د ماشومانو په شخصیت کې تر ټولو اغېزمن رول لوبوي.

## یک بام دوهوا

عابد مجاهد

مسلمان د بل مسلمان ورور هنداره وي، دې نبوي اصل ته په کتو به تر دې عنوان لاندې خپلو عامو لوستونکو او په تېره مسؤلینو ته د اصلاح او خواخوږۍ په نیت هغه څه په ګوته کوو چې مونږ یې په خپله نه شو لیدلی، خو نور یې په مونږ کې ښهویني، ځکه خو وایي چې خپل عیب د ولو منځ وي، مادیات، چوکۍ، حیثیت هغه څه دي چې که څوک وغواړي او که ونه غواړي په انسان کې عجب او عیب راپیداکوي ، خو د دغو عیبو د ورکې او تزکیې لپاره ضروري ده چې یادونه او تذکیر وشي، قرآني او نبوي لارښوونې په همدې ټکي ډېر ټینګار کوي، چې د مسلمانانو په منځ کې د ګناهونو دمخنیوي او د تقوا داختیار لپاره تذکیر ضروري دی .

په حکومتي چوکاټ کې خو بیا د مطبوعاتو په رسالت کې همدا برخه ډېره عمده او مهمه ده، بلکې دمطبوعاتو د رامنځته کېدلو لامل همدا ښودل کیږي چې مطبوعات دې د چارواکو او ولس ترمنځ د پل حیثیت ولري تر څو د مسؤلینو غږ تر ولس او د ولس غږ تر مسؤلینو په ښه شان ورسوي .

انتقاد او نیوکه په دوه ډوله کیږي یودا چې یوڅوک عقدیي او محروم وي، ډېر باعث پرې هغه خپله عقده او محرومیت وي او بل هغه چې خواخوږي او اصلاح یې غرض وي چې که وکولای شي مسؤلینو ته ورپام کړي او په ښه شان سره یې دفع وشي .

دامتیازاتو نه تعادل:

داسلامي امارت په ټولو دولتي ارګانونو کې د کار په بدل کې دولتي امتیازات په یوه شان نه دي، لاملونه به شاید ولري، خو چې علت پکې نسبت وي او کار نه وي ، بلکې په ډېرو ځایونو کې به کار ترهغو ډېر وي چې د معاشونو زیاتوالی یې یوې اداري ته د نسبت له امله وي ، بست او رتبه به یوه خو دمعاش بدله به یې ډېر تفاوت لري . بل صورت یې دادی چې امتیازات یوې اداري ته دنوم او مخورتوب له امله کم او ډېر ورکړل شوي وي، دمثال په ډول که دامتیازي معاشاتو پوښتنه وشي او په هغو کې داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت سهم معلوم شي اوله نورو وزارتونو سره یې پرتله وشي ، معلومه به شي چې دا څنګه یک بام و دو هوا؟

دلته په دغه وزارت کې د وزارت ټول امتیازي سهمونه (١٤) څوارلس دي چې دیوه معینیت سهم درې امیتازي معاشونه کیږي چې په یوه معینیت کې په اوسط ډول شپږ ریاسته ونیول شي او دټولو ترمنځ وویشل شي نو څومره څومره به ور وویشل شي دا په داسې حال کې چې مجاهد او غیر مجاهد آمرین هم په وېش کې نیول شوي وي ، نو چې امتیازي معاش په (۲۴) نفرو وویشل شي څه به ترې جوړ شي ؟

دغه تعادل داسې کار نه دی چې دامارت له مسؤلینو ولکې او اختیار وتلی وي بلکې یوه داخلي موضوع ده که توجه ورته وشي حل یې ممکن دی، داسلامي امارت له واکمنېدو تر دې دمه ډېر وخت وشو خو ددې کار چاره ونه شوه .

یوڅوک له ډېر کاره په رنا کې کور ته نه شي تللی او بل په عین بست او رتبه کې هماغه معین یوڅو ساعته تېروي یا تر هغه هم مخکې ځي خو امتیاز به د دویم زیات وي !!

# د یوې دردمنې مور او د هغې د زوی کیسه!

ژباړه: عبدالرحمن محمود

مور یې ډېره ورڅخه ناراضه وه، قصد یې وکړ چې پخلا یې کړي، له ځانه یې راضي کړي، ور بږغ یې کړه أی موري نن ماښام به روژه مات ته څه پخه وي؟

مور یې په جواب کي ورته وویل زهر درته پخوم، زوی یې په خندا ور غبرګه کړه چې ستا د لاس زهر هم ماته ډیر محبوب دي أو خوند راکوي، مور یې ورته وویل له مخه مي لیري شه، زوی یې ورته وویل سمه ده خو یوار وخانده، مور یې ورته وویل ولاړسه ما و خپل کار سره پریږده، ځوی یې ورته وویل أی موري دومره غصه أو قهر!

مور یې ورته وویل نه غواړم چې مخ دي ووینم تر څو چې د مور وپلار سره زندګي أو ګذاره زده نکړې، زوی یې ورته وویل سمه ده زه هم درڅخه مرور سوم أو نن روژه مات"افطار" هم نه درسره کوم.

زوی یې له کوره ووت تر څو چې یو قیمتې توکی پیداکړي أو بیا خپله مورکۍ په خوشحاله کړي...

ځکه چې دی پوهیدی چې دامي د مور د زړه خبرې ندې بلکې د یو لږ وخت لپاره راته غصه شوې ده.

له دوه ساعته وروسته چې د افطار وقت هم قریب شو، مورکۍ ئي پر خپله لور بږغ وکړ چې سترخوان أوار کړه، أو د خپل ځان سره یې وویل " څومره غصه مي ورته وکړه، الله تعالی دي ما دده د پښو له خاورو ځار کړي...

أو دده لپاره مي هم هغه خواړه تیار کړي دي چې دده خوښ دي، والله چې افطار هم بغیر له ده څخه خوند نکوي "

لور یې ور بږغ کړه، موري سترخوان باندي ډوډۍ کښیږدم و افطار ته پنځه دقیقې پاته دي، مور یې ورته وویل هو، خو وروره دي تلیفون وکه چې ژر راشي و افطار ته لږ وخت پاتي دی، أو دا مه ورته وایه چې ما تاته ویلي ...

چې تلیفون ورته وکه تر څو چې د مور په قدر پوه شي أو بخښه و غواړي.

لور یې تلیفون ورته وکړ خو د هغه موبائل د بند جواب وایې، مور یې وویل الله جل جلاله دي په سلامتي سره خپل کورته راولي.

وخت د أذان شو خو زوی یې رانغلی، مور یې روژه ماته کړه خو خپل په زړه کي وایې " زما د سترګو توره أو زما روحه پوهیږم چې وږی یې، الله ج مي دي سترګې وباسي چې ته مي خوابدی کړې"

ناڅاپه د تلویزیون پر مخ باندې خبر ښکاره سو چې په کراده " په بغداد کي یو ځای دی" کښې داع.ش چاودنه کړې، د مورکۍ زړه یې په درزا شو، د ډوډۍ ګوله یې په ستوني کې و دریده، بیا یې چیغه کړه " رام،رام" دایه د زوی نوم وو.

خاوند یې ورته چې څه دی چې د رام رام نعرې وهې؟ هغې ورته وویل چې رام هم له کوره خوابدی وتلی داسې نه چې لس منټه وروسته یې پلار ته تلیفون راغی أو ورته وئي ویل چې له خبرَوَنې دي معذرت غواړم د رام دي الله جل جلاله شهادت قبول کړي.

مور یې وویل چې یا دا دروغ وایې هغه أوس راځي زما لاس مچوی أو ما خوشحاله کوي.

پلار یې له کوره ووت تر څو چې د خبرې حقیقت معلوم کړي، کله چې یې حال معلوم کړ کورته یې تلیفون وکړ أو په ژړا ژړا یې ورته وویل چې هغه خو شهید شوی دی.

د رام مور ورته وویل یا هغه ماته ویلي وچې زه نن ستا څخه خفه یم روژه مات نه درسره کوم، هغه د خپلو ملګرو سره وتلی دی، تلیفون یې خاموش کړ، مور یې چیغې کړې:

أی ځما روحه په والله چې نه یم درڅخه خوابدي، فقط ژوند دي غواړم، هر څومره بد و رد راته وواېه خو دغه مه را أوروه چې رام شهید شوی دی، زه درڅخه راضي یم، که ته راڅخه خوابدی یې د خپل سر په قیمت دي خوشحاله کوم.

مور یې د هسپتال په خوا روانه شوه أو هلته یې خپل خاوند د رام پلار ولید، ور بږغ یې کړه چې رام چیري دی؟

هغه ورته وویل چې په هغه أطاق کي په خپلو وینو کي غرق پروت دی، مور یې ور منډه کړه أو په وینو سور څادر یې ولید چې پر زوی یې غوړیدلی دی، څادر یې پورته کړ چې زوی یې شهید پروت دی، مور یې ورته په ژړا کې وویل أی زما زړه زما روحه رازه روژه مات تیار دی، هغه خواړه مي تیار کړي دي چې تا غوښته...

په دغه حالت کي د هسپتال ډاکتر را داخل سو چې په لاس کي یې د سرو زرو بنګړی دی أو دا حروف پر لیکلي دي " رضاکي همي یا أمي " هغه یې ورکړ چې دا موږ ستا د زوی سره پیدا کړی.

مور چې یې بنګړی ولیدی چیغه یې کړه أو خپل زوی تر قمیص و نیوه أو ورته کړه یې چې لامي نوره هم سوځوې.

أی د خپلې مور روحه الله رب العزت دي د بدر أو أحد په شهیدانو کي راپورته کړه، مابخښلی یې.

دا د یو عراقي کورنی واقعي حال وو.

الله جل جلاله دي د مسلمانانو پر حال رحم وکړي.

# د صحابه کرامو زهد او تقوی!

ژباړه: اکرام واحدي

حضرت عثمان رضي الله تعالی عنه یوه ورځ د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر رضي الله عنهما یادونه وکړه او د ځان په اړه یې هم یو څه وویل. ویل یې ابوبکر صدیق داسې انسان وو چې نه یې دنیا غوښته او نه دنیا هغه غوښته (د دنیا سره یې هیڅ تعلق نه وو، بس د الله ج او د هغه رسول ص یې ټوله سرمایه وه).

او حضرت عمر چې وو، دنیا هغه ته راتله (یعنې واک، سلطه، فتوحات، غنایم....هر څه پریمانه وو) خو عمر دنیا نه غوښته.

بیا یې د ډېرې عاجزۍ نه وویل: «او مونږ چې یو، نو په دنیا کې ښي او چپ طرف مصروف او مشغول یو».

حضرت عثمان رضي الله دا خبره د ډېرې تواضع له امله وکړه، کنه هغه داسې نه وو. هغه خپل مال د الله ج په لار کې داسې خرچ کاوه چې بل چا هغسې نشو کولی.

خپل کور نه یې سم د مسلمانانو بیت المال جوړ کړی وو، اسلامي لښکر به یې تجهیزول. بئر اریس د اوبو کوهی یې وکینده (تر څو مسلمانانو ته د اوبو سهولت وي).

(بئر معونة) یا د معونة کوهی یې واخیست.

په شل زره یا په بل روایت په پنځه ویشت زره درهمه یې ځمکه واخیسته او مسجدالنبوي سره یې یو ځای کړه.

یو ځل یې زر اوښان په خوراکي توکو بار مدینې ته راغلل. د هغه وخت سوداګرو ترې په ګټه اخیستل وغوښتل. یو په یو چند یې ترې وغوښتل ور یې نه کړل. په دوه چنده یې ترې وغوښتل، بیا یې هم ونه منله. درې چنده ګټه یې ورکوله بیا یې هم انکار وکړ.

اخر سوداګرو ورته وویل چې مونږ خو یې هم ګټې ته اخلو. هغه ورته وویل: یو څوک شته چې هغه له دې هم ډېره ګټه راکوي.

سوداګرو وویل هغه څوک دی؟

ویل یې هغه الله جل جلاله دی چې په یوه نیکۍ لس چنده ګټه ورکوي. ما دا اوښان د الله ج په لار کې صدقه کړل.

او کومه خبره یې چې کړې وه هغه د ډېرې تواضع له امله وه.

مال ورسره ډېر وو خو داسې یې مصرف کړ چې تر قیامته به یې حسنات جاري وي.

د سعودي په بنک کې نن هم د جضرت عثمان په نوم اکونټ شته او هغه کوهی اوس هم شته، شاوخوا ټوله ځمکه ترې خړوبیږي. د حضرت عثمان رضي الله په نوم د خرما باغونه دي، حاصلات یې را ټولیږي او صدقه کیږي.

## شعرونه

# د اجل سلګۍ

**عبدالله‌عزام**

د کور خوا کې راته پروت دی، او غرمبیږي
د ښامـــار رګـــو کې زما وینه بهیــــــږي
خـــــر، سرې په نصیحت او وعظ نه شـــه
تر مکې که یـــې وهې، نه حاجـــي کیـږي
د اجـــل سلګۍ وهـــم، «القانون» لاس کې
د سینا زوی نشـــــته، نور پرې نه پوهـــــیږي
چـــــې له ګوتو مې قلم پرېوته، ړوند شوم
خوب مې ولیـــــد خلکو، څنګه تعبیرېږي؟
د هندارو ســـــوداګرو! څـــــواب راکـــــړئ
دا مـــــات شوي زړونه څـــــرنګه جوړېږي؟
نه مـــــې خپل وساتل خپل، نه پردي خپل شول
سیاســـــت ته او خدای «عزامه!» داسې کیږي؟

یادونه: القانون د طب په موضوع کې د ابن سینا مشهور کتاب دی چې نړیوال ډاکټران په معاصر طب کې ترې په پراخه کچه استفاده کوي.

# نعت

**زکریا**

قاف ترقافـــــه ځمکه ډکه وه له شـــــره
روګـــــردان وه ادم زاد درب لــــــه دره
یـــــوداعـــــي و،رب راولېږه دنیـــــا ته
په کـــــمال کې هزار چند زیات و له لمره
دکریم الســـــجـــایا له تجـــــلیاتو
نوراني شـــــو تور جهـــــان تربحـــروبره
واړه اهـــــل ددنیا دې منـــــت بار دي
تـــــوري زلفـــي دې خوشبو دې له عنبره
زکـــــریا دربانديي درود اوســـــلام وايـــي
اې غمـــــخواره دامـــت خیرالبشره (ص)

# حمدشریف

**عاکف‌امارتي**

نه شریک نه دې مرستیال نه دې وزیر شته
نه دې سیال نه دې مثال نه دې نظیر شـــته
په استارو د جـــــلال باندې مســـــتور یې
نه دې حد نه دې تشبیه نه دې تصویر شـــته
خیال او وهم دې د ذات له درک عاجز دي
نه دې ذات لره په کم او کیف تفــــسیر شته
عرش کرسي د ټول مخلوق دي او حادث دي
ذوالجـــــلاله نه دې تخت نه دې سریر شته
نه جوهـــــر او نه عـــــرض یې لویه خـــــدایه
نه دې ذات ته تجــــــزیه شته نه تکسیر شته
کائنـــــات دې د هـــــر امر تابعـــــدار دي
چیـــــرته ستا د تقدیر مخې ته تدبیـــــر شـــته
پاک قـــــرآن دې شو معجز د فصحاوو
په هر ټکي کې یې بېل کیف او تأثیر شته
زمکه ګرځي سپوږمۍ ګرځي مَریخ ګرځي
کهکشان کې یې جدا جدا مسیر شته
چې عاکف امارتي دې ثناخوان دی
ربه چیرته بې له تا په حمد جدیر شته

# زراعت او مالداري مو له پردي احتیاجه خلاصوي!

**س. سعید غلجی**

د افغانستان موقعیت داسې دی، چې په وچه کې راګیر هېواد دی، سمندر ته لاره نه لري، ختیځ او جنوب ته پاکستان راڅخه تاو دی، لویدیځ ته مو ایران دی او شمال طرف ته مو ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان هېوادونه پراته دي، چین سره پوله لرو، خو لاره نه لرو. خو په همدغه محاصره هېواد کې یو څو داسې کمالات دي، چې د ټولې نړۍ د توجه وړ ګرځېدلی. لومړی خو دا چې دغه هېواد د موقعیت له مخې د اسیا زړه بلل کیږي، نو د اقتصادي او امنیتي ګټو پر اساس هر څواک ته لومړیتوب لري، بل دا چې دغه هېواد په معادنو مالا مال دی، نو د هر چا سترګې ور اوړي او دریم دا چې د اسلامي امت په منځ کې تر ټولو قوي، متدین او مجاهد ولسونه همدلته مېشت دي، د هیچا باداري نه مني او یو یاغي، باغي ملت دی.

د همدغو دریو صفاتو له امله موږ تل د نړۍ، سیمې او ګاونډیو هېوادونو له لانجو او یرغلونو سره مخ یو. سمندر ته هم لاره نه لرو او ګاونډیان مو هم ښه تعامل نه راسره کوي. نو له همدې امله موږ نه شو کولی، چې د تجارت له لارې ځان ته روزي ومومو. خو همدغه بندیز او د ګاونډیانو له خوا محاصره ییز چلند زموږ پر ګټه دی، تر څو مجبور شو او په همدې محاصره هېواد کې دومره روزي برابره کړو، چې تر یوې اندازې له پردي احتیاجه خلاص او ګزاره مو پرې وشي.

ځکه خو زراعت او مالداري زموږ په اقتصاد کې ډېر مهم رول لري، بلکې یوازنۍ لاره همدا ده، چې د پردیو له بندیزونو سره، سره خپل اړتیاوې ترې پوره کولی شو. موږ د زراعت او مالداري په برخه کې د هیچا اجازې ته نه یو محتاج. پراخې حاصل خېزې دښتې او لوی سیندونه لرو، کولی شو چې د ژوند لومړني توکي؛ لکه: غنم، غوړي، وریژې، لوبیا او نورې غلې دانې او سبزیجات له همدې خاورې تر لاسه کړو. همدغه راز؛ مالداري هم زموږ ډېرې اړتیاوې پوره کوي. نو چې د زراعت او مالداري په برخه کې پر ځان بسیا شو، ان شاء الله؛ بیا د اغیارو د هر ډول بندیزونو مقابله کولی شو. لکه چې پښتو متل دی: (جنګ په وسله کیږي، ننګ په غله کیږي).

د افغانستان او یا سلنه وګړي کلیوالي ژوند لري او کولی شي چې زراعت او مالداري څخه خپلې اړتیاوې پوره کړي. اوس هم اکثره هېوادوال په همدغو دوو چارو بوخت دي، خو که حکومت دغې برخې ته نوره هم توجه زیاته کړي او په دې برخه کې ولس ته تر خپله وسه سهولات برابر کړي، نو هم به په حکومت بوج کم شي او هم به مو هېوادوالو ته یو روزګار برابر شي. هسې هم زموږ تعلیمي سویه بیخي ښکته او اکثریت هېوادوال مو نا لوستي دي، نو همدغه زارعت او مالداري د ټولو لپاره یو مناسب کسب دی او ټول پرې قادر دي.

له نېکه مرغه؛ اسلامي امارت هم د زراعت برخې ته ډېر متوجه دی، د هېواد په ګوټ ګوټ کې د زراعت او مالداري په برخه کې ګرندۍ هڅې رواني دي او معلومېږي چې مسؤلین قوي عزم لري، تر څو د زراعت او مالدارۍ په برخه کې دا هېواد پر ځان بسیا کړي.

که دغه هڅې همداسې دوام وکړي، د هېواد ګوټ، ګوټ کې د زراعت په موخه بندونه او کانالونه جوړ شي، بزګرانو سره مرستې وشي، ستونزې یې واورېدل شي او تشویق شي، نو حتماً به د خودکفایي حد ته ورسېږو.

البته؛ د زراعت په برخه کې دا ډېره مهمه ده، چې بزګران د غنمو کرلو ته تشویق شي، ځکه غنم د ژوند لومړني اساسي توکي دي، له رومیانو، پیازو او نورو سبزیجاتو پرته هم ژوند کیږي، خو له غنمو پرته ژوند نه کیږي.

کله محمد مرسي د مصر په سینا دښته کې د غنمو کرلو اعلان وکړ، نو غربي حاکمانو او رسنیو جدي غبرګون وښود او دغه اعلان یې د اقتصادي جنګ پیلامه وګڼله! مصر پخوا د غنمو د ګودام حیثیت درلود، خو مکارو صلیبیانو د مالوچو او نورو بوټو او سبزیجاتو کرلو ته تشویقول، تر دې چې اوس مصر په نړۍ کې د غنمو تر ټولو زیات واردونکی هېواد دی!

زموږ هېواد هم د تېرو څلویښت کلنو جګړو، ګډوډیو او پردیو لاس وهنو له امله دې حد ته ورسېد، چې په ډېره لوړه بیه له نورو هېوادونو اوړه اخلو او که راباندې بند یې کړي، له لوږې مرو. حال دا چې پخوا مو له همدې وطنه دومره غنم تر لاسه کول، چې خپله ګزاره مو پرې کېده.

بل دا چې زموږ هېواد په وچه کې محاصره دی او ګاونډیانو مو هم ښه چلند نه راسره کوي، همېشه مو مېوې او تازه سبیزجات راباندې تاوان او بې وزله بزګران مو د ګټې پر ځای تاوانونه شمېري. نو له همدې امله هم د وچو حبوباتو کرل پکار دي.

وروستۍ خبره دا چې مسؤلین باید شنو خونو او یخو خونو ته توجه زیاته کړي، تر څو په هر موسم کې خپلې اړتیاوې پوره کړی شو او مېوې او سبزیجات مو د سپین بولدک او تورخم لارو کې خوسا نه شي.

# د علماوو کار څومره مهم دی؟

**مولوي وقایت الله (وقار)**

دا ډېر خلک چې د اوسنۍ نړۍ له مادي پرمختګه اغېزمن شوي دي، داسې انګېري چې ګویا په دنیا کې یوازې د هغوی هڅې د احترام وړ دي چې په مادي لحاظ اوسني بشر ته یو څه ورکوي او د اوسنۍ نړۍ د ظاهري ښکلاوو لپاره لاس او کار دي.

دا منو چې په مادي توګه د نړۍ معماران د نړۍ محسنین دي او بایده ده چې د خدمتونو ستاینه یې وشي، هغوی چې په مادي لحاظ ټولنې ته پرمختګ ورکوي، هڅې یې نه یوازې د احترام قابل دي، بلکې د ستایلو وړ دي، مګر دا تر دې سل چنده د منلو ده، د قبلولو ده او باید چې ټول پرې قانع شي هغه داده چې باید اعتراف وشي چې تر مادي کار معنوي کار ډېر اړین دی او ارزښت یې څو چنده زیات دی.

هغه کسان چې نن غوړ زیر ګرځي او ځان د اوسنۍ نړۍ متمدنه خلک ګڼي، څه ناڅه په عصري علومو پوهېږي او له دیني علومو یې فاصله اخیستې، داسې فکر کوي چې دوی چې څه لاسته راوړي دي، هر څه دي او دوی چې د څه لپاره کار کوي، هماغه د درنښت وړ دي؛ خو دغه تصور سم نه دی او نه د اوسنۍ ټولنې په ګټه دی. دغه تصور نه یوازې د نن لپاره ګټور نه دی، بلکې د تېر انساني تاریخ په درشل کې هم په واقعي شکل رد شوی دی، ستغ څواب شوی دی او د هوښیارو ملتونو له لوري پرېښودل شوی دی، هلته چې کومه ټولنه هم په واقع کې پرمختللې ده او پرمختګ یې په کلونو کلونو مزل وهلی او بیا د امپراتورۍ په توګه مطرح شوې؛ نو ارو مرو یې تر شا له مادي کار پرته یو ډول بل کار هم شتون لري چې د هغې نوم معنوي کار دی، معنوي مبارزه ده او په معنوي لحاظ د ټولنې سمون او ترقي ده.

ددغه ناوړه تصور له مخې چې خلک په ټولنو کې یوازې مادي کار د اعتبار قابل ګڼي او معنوي نه، ډېری یې د دیني علماوو هڅو ته په بې ارزښتۍ قائل کېږي، دوی دا ګڼي ګویا علماء د ټولنې لپاره یو بوج دی چې پرې اچول شوي دي او د دوی کار یوازې د څو شېبو لپاره په تبرکي او تشریفاتي توګه ارزښتمن دی، نور د دومره اهمیت وړ نه دی، لکه دا نور کارونه چې څومره دي او نه د دومره توجه مناسب دی چې په لویه کچه ورته وخت ورکړل شي، سرمایه ګذاري ورته وشي او په زرګونه وګړي دې پکې مصروف شي.

دا نو جلا خبره ده چې زمونږ په اوسنۍ ټولنه کې چې علماء کوم کار کوي، څومره په هغه چوکاټ برابر دی چې د شریعت له روح سره سمون ولري او د اوسنۍ ټولنې ورته اړتیا وي، دا خبره بېله څېړنه غواړي او په هغه ستونزو چې دلته موجودې دي، هیڅوک سترګې پټولی نه شي، مګر دا خو واضحه ده چې په ټوله کې د علماوو کار چې له سالمې دیني مرجع څخه خروب شي، نه یوازې دا چې باید ومنل شي، وستایل شي، وپالل شي، بلکې په شعوري توګه د هغې ننګه وشي او له نورو ټولو کارونو یې زیاته بدرګه وشي.

که چېرته دیني علماء موجود نه وي او په ټولنو کې د هغوی کار نه وي؛ نو هیڅکله به بشر ننني پرمختګ نه وی کړی، دا مادي پرمختګ به هم نه وي، معنوي پرمختګ خو بېله خبره ده، دا نن چې د مادیاتو په دې جهان کې په میلیاردونه وګړي د آرام ساه اخلي، د علماوو د هڅو برکت دی، علماء دي چې د خپلو سرونو په بیه یې په نشت حساب امکاناتو سره بشر له خپل اصیل فطرت سره تړلی دی او بشر یې د یوه معنوي څواک رهبرۍ ته سپارلی دی.

اوسني بشر په سترګو دا خبره ولیده چې د علماوو ارزښت څومره دی او د دوی د کار اهمیت څومره دی؟ نن بشر له خپل بې ساري پرمختګ سره، له دغه شته قوي نظامونو او امپراتوریو سره، له ساینس او ټیکنالوژۍ سره بیا هم ډېر زر خپلو نفسي غوښتنو او شیطاني دامونو ته تسلیمېږي او په څو ثانیو کې د پیړیو کار له منځه وړي، اساسي لامل یې همدا دی چې بشر په مادي لحاظ روزل شوی؛ خو په معنوي لحاظ لا هم په ډېرو ټولنو کې پټې سترګې دی. په همدې اساس چې علماء مهم دي، کار یې مهم دی او انساني دنیا پرته له دوی او دې هیڅ ده، امام حسن بصري رحمه الله فرمایلي: د علماوو له مجلسونو پرته ټوله دنیا تیاره ده، په بل ځای کې فرمایي: که علماء موجود نه وی؛ نو خلک به د څارویو په څېر وی.

امام سفیان بن عیینه رحمه الله به فرمایل: تر ټولو ستره سزا او عذاب دادی چې علماء له منځه لاړ شي.

او له همدې امله چې د علماوو له شتون او کار پرته ټولنې بې معنی دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د غوره والي په اړه فرمایي: په یوازې عبادت کوونکي باید د عالم فضیلت دومره دی، لکه زما چې په تاسو کې په هغه تر ټولو ښکته انسان څومره دی.

# نوم ورکي غازیان!

**فرید احمد (مبارز)**

د اسلامي تاریخ اتلان چې غرب زموږ نسلونو ته د سمندري غلو په نوم راوپیژندل، په ۲۰۰۳ میلادي کال کې د غرب د فحشا نماینده (هالیوډ) د Pirates of the Caribbean یا قراصنة البحري په نوم فیلمونه جوړ کړل، چې معنا یې د سمندري غلو ده.

پر دې فیلمونو باندې څه باندې (۴) میلیارده ډالر مصرف وسو، د زیاتو خلکو د پام او خوښې وړ وګرځیدی، مګر متاسفانه په دې اصدارونو کې یو سرې ډیرې څښتن او د هغه ورور معلومیږي، چې خیرالدین بربروسا او د عروج بربروسا په نوم یادیږي. دا خیرالدین بربروسا د اسلامي اُمت هغه نوم ورکی سالار او غازي دی، چې حتی زیاتره مسلمانان یې د نوم سره نا آشنا دي، کنې تاریخ خو یې ډیرو کمو ته معلوم وي.

د هالیوډ دې اصدارونو په مسلمانو هیوادونو کې هم خوښونکي ومونډل، او دا فتنه تر مسلمان ملت هم راورسیدله، په دې توګه غرب د اسلام یو آتل زموږ نسلونو ته د سمندري غله په نوم راوپیژنده، کوم چې د خلکو مال او دولت غلا کوي، نو په همدې اساس اړتیا وینو چې ددې ستر غازي په ژوند او مبارزو هڅو تر یو څه حده رڼا واچوو، چې مسلمان نسل ته د بربروسا د ورونو په باب خپل حقیقي دښمن او محسن معلوم سي. خیرالدین بربروسا او عروج بربروسا ددې دواړو غازیانو نسب ترک مسلمانانو ته رسیږي، د دوی پلار یعقوب بن یوسف د ترک مسلمانو فاتحینو څخه وو، مور یې هم د اندلس څخه وه، هغه وخت د اندلس مسلمانان د هسپانیاوي عیسایي دولت لخوا تر سختو فشارونو لاندې وه،

د خیرالدین خپل نوم خضر وو، او د عثماني حاکم سلطان سلیم اول لخوا په خیرالدین ملقب سو. څلور نور وروڼه یې هم وه، چې محمد اسحاق، محمد الیاس، عروج او محمد نومیدل.

خیرالدین تر دوی ټولو کوچنی وو، او د ۱۴۸۰ میلادي په شاوخوا کې د یو روایت مطابق په یونان او د بل روایت مطابق د یونان په لسبوس جزیره کې یې دنیا ته سترګې پرانیستې دي. د عروج د سرې ږیرې د امله اروپایانو په عروج د بربروسا لقب کېښښود، چې د سور ږیري په معنا دی، د بربروسا څخه وروسته دا لقب خیرالدین ته هم میراث سو، او نوم یې خضر خیرالدین بربروسا سو. ځیني بیا وایي: هغه وخت دې دواړو ورونو د اندلس مسلمانانو ته نجات ورکاوو، هغوی عروج د بابا عروج په نوم یاده وه، چې نورو اروپایي ملتونو دا نوم په تدریجي توګه سره بربروس ته نقل کړ.

# د امت حال!

**ابو عمر**

هغه خلک چې د اسلام دعوه کوي او ځانونه مسلمانان بولي، د هغوی په اړه په قرآن مجید او نبوي احادیثو کې ډېر واضح او صریح احکام شته. په قرآن مجید او نبوي احادیثو کې ټول هغه خلک خپلو کې سره ورونه بلل شوي، چې په الله تعالی او د هغه په رسول صلي الله علیه وسلم یې ایمان راوړی او ځانونه مسلمانان بولي.

همدغه شان دوی ته خپل دوست او دښمن هم ورپېژندل شوی، اسلام واضح کړې، هر هغه څوک چې د توحید کلمه وایي، ستا دوست دی او هر کافر او مشرک ستا دښمن دی. قرآن مجید کې واضح ویل شوي: هیڅکله به یهود او نصارا له تا څخه تر هغه راضي نه شي، څو چې د هغوی دین ونه منې.

همداراز په ګڼ شمېر نورو آیتونو کې ویل شوي چې هغه کسان ځانونه مسلمانان بولي، خو له کفارو سره دوستي کوي، نو یقیناً چې دوی د هماغو کفارو له ډلې څخه دي. په ځینو آیتونو کې دغه ډول خلک منافقین بلل شوي.

همدغه راز رسول الله صلي الله علیه وسلم مسلمانان له یو جسد سره مشابه کړي، کله چې د جسد په یوه برخه درد وي، نو ټول بدن ترې نا ارامه وي.

خو له دې هر څه سره سره متأسفانه دا دی وینو چې مسلمانانو خپلو دیني ارشاداتو ته شا کړې او یو مخ د کفارو په دسیسو کې ښکېل دي.

مسلمانان په جغرافیایي، ژبني، قومي او نژادي برخو سره ویشل شوي، له یوې اسلامي نړۍ څخه څو پنځوس اسلامي هېوادونه! جوړ دي. هر یو بل ته ګوته په ماشه ناست دی، هیڅ مسلمانان له اجازې پرته د بل مسلمان خاورې ته نه شي داخلېدلی، مسلمانان سره وېشل شوي دي. هر یو یې بل خپل دښمن ګڼي. که په یو ځای کې په یو مسلمان تېری کیږي، نور یې هسې تماشه کوي او وایي چې هغه د هغوی خپله داخلي موضوع ده؛ موږ پورې اړه نه لري!

همداراز یوه بله بدمرغي دا ده چې په مذهبي لحاظ د مسلمانانو له منځه نوې نوې ډلې راپیدا کیږي. تقریباً د اسلام په اوایلو کې، یعنې په دوهمه هجري پېړۍ کې څلور امامان (امام ابو حنیفه، امام شافعي، امام مالک او امام احمد رحمهم الله تعالی) د الله تعالی د رحمت په توګه رانازل شول، دوی ډېر لوی مجتهدین وو، هر یو ډېر مخلص او تقوادار وو، هر یو یې د اسلام په هره برخه کې پوره پوره معلومات درلودل، له هر ډول ناوړه خویونو الله تعالی ساتلي وو. حتی تر دې چې ټول اسلامي امت پر دوی راټول ؤ او داسې څوک تقریباً پاتې نه شول چې له دوی څخه ور هاخوا کوم بل مذهب د ځان لپاره غوره کړي، د امت اجماع په دې شوه چې هر مسلمان باید د دغو څلورو امامانو له جملې بلا توپیره د یوه لاره ونیسي. تر دوی وروسته هم لوی لوی علماء تېر شول، خو ټولو د دوی له جملې د یوه اتباع کوله، خو متأسفانه ورو ورو په هره زمانه کې داسې ځان غوښتونکي او جاهل اشخاص راپیدا شول چې حتی په دغو څلورو واړو امامانو کې یې یو هم سم نه باله، په ټولو یې کرښه راښکله او ځان به یې تر دوی ټولو غوره مسلمان او پوه عالم باله، نو یوه نوې ډله به یې راپیدا کړه، اسلامي امت به یې سره ووېشه، پر نورو مسلمانانو به یې د کفر ټاپې ووهلې او د مسلمانانو تر منځ به یې خپل منځي جګړې پیل کړې. له بده مرغه دا لړۍ لا تر اوسه روانه ده تقریباً هره پېړۍ کې څو څو نوې نوې ډلې او فتنې راوځي. څو څو پېړۍ وروسته داسې خلک راپیدا کیږي چې خپل اسلاف، امامان او علماء ناپوهان بولي او خلک د هغوی پر خلاف او خپلې تابعدارۍ ته رابولي!

اوس اسلامي امت خپلو کې دومره سره ښکېل او په جګړه دی، چې له کفارو سره د جګړې وخت نه لري او نه هم له کفارو سره دښمنۍ ته د چا پام دی. ټول خپلو کې سره نښتي.

ځوانان مو لګیا دي د کفارو ړوند تقلید کوي. شکل او څېره یې د صلیبیانو په شان جوړه کړې، د خپل پیغمبر صلي الله علیه وسلم په سنتو شرمیږي او د صلیبیانو هر ډیزاین او د کلتور هره برخه د ځان لپاره فخر ګڼي، جهاد او دعوت خو څه کړې، خپل لمونځ اودس لا ترې پاتې. ځینې یې لګیا دي فقط د پیسو زیاتولو ته یې کار ویلي، ځینې یې نه د دین دي او نه د دنیا، فقط ګیم، کرکټ او نورو لهو ولعب ساعت تېریو باندې سر دي. زموږ هیڅ ځوان سره د اسلامي نظام د قیام، د الهي کلمې د لوړاوي او د مقدسو اماکنو د ساتنې فکر نشته. له کفارو سره دښمني او له مسلمانانو سره دوستي د خلکو له زړونو ختمه شوې. په سلو کې ایله پنځه فیصده ځوانان به داسې وي، چې هغوی به تر یوه حده د امت په هکله فکرمن وي، نور ټول د شیطان په دسیسو کې نښتي. نو ایا له داسې ځوانانو به کفار ویره ولري؟ او ایا داسې خوانانو څخه اسلامي امت کومه د خیر تمه کولای شي؟!

بله بد بختي دا ده چې اسلامي امت په لسګونو هېوادونو وېشل شوی، په هر هېواد یې داسې خلک واکمن دي چې له کفارو سره دوستي د ځان فخر ګڼي، هیڅ داسې هېواد نشته چې په نره او ښکاره ډول د اسلام او مسلمانانو دفاع وکړي، کیدای شي کوم یو به کله نا کله د مسلمانانو د یوې اهمې قضیې په هکله یوه څه وایي، خو فقط د ویلو تر حده او بس. عملاً هیڅ نه کوي او څه چې وایي، فقط د خپلو مسلمانو ولسونو د غولونې لپاره!

د اسلامي هېوادونو! هر مشر کوشش کوي چې د صلیبیانو اعتماد خپل کړي او د نورو په نسبت ځان ورنژدې کړي.

افسوس چې دوی په ذلت کې عزت لټوي او د ځان لپاره حتماً یو صلیبي بادار مومي، که نه په اسلامي نړۍ به د هیچا زور نه ؤ رسېدلی، کله چې په لسګونو هېوادونه په یوه خوله شي، خپلو کې اتحاد وکړي او د کفارو پر خلاف یو دریځ ونیسي، ایا تر دوی به هم بل څوک عزتمن وي؟! ایا نړۍ کې به د دوی په شان پاور او زور بل څوک ولري؟!

نه، هیڅکله نه! کله چې مسلمانان خپلو کې په اتحاد وو او خپل دوست او دښمن یې پېژانده او له جهاد څخه یې زړونو کې وېره نه درلوده، هغه مهال مسلمانان داسې عزتمن او سرلوړي ؤ، چې د نړۍ بل سر کې به هم کفار د دوی تابع ؤ.

نو ای ځوانانو!

راشئ د ځان لپاره عزت غوره کړئ! هر ډول خپل منځي اختلافات او بې ځایه تحمیل شوي تقسیمات شاته وغورځوئ او د الله تعالی په لاره کې مسلح جهاد پیل کړئ، د اسلام او مسلمانانو د سرلوړي او د یو واحد اسلامي نظام د قیام لپاره له باطل پرستانو سره وجنګیږئ. هم به مو ژوند د عزت وي او هم په د قیامت په ورځ د الله تعالی او د خپل محبوب رسول صلي الله علیه وسلم پر وړاندې سپین مخي یاست!

خو که خدای مه کړه، همداسې د غفلت په خوب ویده واست، نو هم به مو د دنیا ژوند په ذلت کې تېر کړی وي او هم به د قیامت په ورځ خوار او ذلیل له کفارو سره یو ځای دوزخ ته غورځول کیږئ.

ځوانانو!

د کفارو هر ډول پروګرامونه، رواجونه او نظامونه رد کړئ!

موږ الحمدلله مسلمانان یو، اسلام یو شامل او کامل دین دی، حتی د اودس ماتي طریقه یې هم بیان کړې، نو ایا په داسې یو شامل او کامل دین کې به د حکومت او نظام طریقه نه وي بیان شوې؟

ولې نه! اسلام د حکومت لپاره خپله نقشه او قوانین لري. داسې قوانین چې د ټولو مسلمانانو او ګرد بشریت لپاره پکې خیر نغښتی.

دغه د کفارو له خوا په یو او بل نوم جوړ شوي باطل نظامونه او نظریې رد کړئ. کمونیزم، دیموکراسي، سیکولریستي، نشنلستي او داسې نور په لسګونو ګمراه او باطل افکار فقط د دې لپاره جوړ شوي چې له مسلمانانو څخه د هغوی عزت (اسلامي نظام) واخلي او مسلمانان مجبور کړي چې د کفارو هر فرمایش ته لبیک ووایي!

ځوانانو!

په دغه پنځوس - شپېته کاله ژوند مه غولېږئ، د قیامت یوه ورځ پنځوس زره کاله ده او د جنت او دوزخ ژوند ابدي دی، داسې چې هیڅ پای او ختمېدل نه لري.

په خپل دین کلکې منګلې ولګوئ او د کفارو هر ډول دسیسې او ډرامې شنډې کړئ.

که نور بیخي نه پوهېږئ او د اسلام په اړه مطالعه نه لرئ، فقط دومره پوه شئ چې هر څه د کفارو خلاف کوئ، له هغوی سره له مشابهته ځان وساتئ، د هغوی هیڅ خبره مه منئ او د اسلام په اړه هر اړخیزه مطالعه وکړئ، خپله علمي سویه مو غښتلې کړئ او د کفارو په پلانونو او دسیسو ځانونه ښه وپوهوئ، ولسونه پرې خبر کړئ، د کفارو او د هغوی د غلامانو (تش په نوم مسلمانانو) پر خلاف مسلمانان راوپاروئ، ذهنونه یې ورخلاص کړئ او د کفارو او منافقینو له شومو ارادو یې خبر کړئ.

که داسې مو وکړل، نو لرې نه ده چې مسلمانان به یو ځل بیا ډېر ژر د خپل لوی برم او عزت څښتانان شي، ان شاء الله...

خو که همداسې د غفلت په خوب ویده وئ، نو په یاد ولرئ چې یوه ورځ به کفار ستا تر دروازې هم درورسیږي، ناموس به دې بې عزته شي، ته به ووژل شې، اولادونه به دې ستا تر مخ په وینو کې لت پت شي، جوماتونو څخه به دې سینماګانې او نایټ کلپونه جوړ شي او بیا به هیڅکله حتی د چا تر مخ د شهادت کلمه هم ونه شې لوستلی! ونعوذ بالله من ذلک...

# افغان اعلانات

**اطلاعیه مفقودی**

یک قطعه جواز فعالیت رهنمای معاملات تحت عنوان محمود نصرت دارنده جواز شماره ۱۲۱۱ مربوط محترم سلطان محمود فرزند عبدالمحمد مفقود گردیده است.۳۵۰٦

***

**اعلان داوطلبی**

مؤسسه خیریه داکار) اعلان داوطلبی برای تهیه واتر پمپ زیر آبی برای پروگرام داکار پروژه UNICEF) را در پروسه ذیل به داوطلبی میگذارد. لهذا از تمام علاقمندان واجد شرایط تقاضا بعمل میاید تا آفر های سربسته شانرا قبل از معیاد تعین شده به دفتر مرکزی داکار بسپارند.

-۲۲۰۳/UNICEF/۱٦۳٤ to ۱٦۲۲-PRF ٥۹ DACAAR ITB ۱۲,۲۰۲۲/WSC۱,۱۱/WSC/WSC٤,۳

) اعلان داوطلبی برای تهیه واتر پمپ زیر آبی برای پروگرام داکار پروژه UNICEF)

بنا ازمتقاضیان محترم خواهشمندیم تا آفرهای شانرا ) تهیه پایپ های جستی برای ساخت گلخانه ها در ولایات فاریاب و جوزجان) باید الی تاریخ ۱٦ جنوری ۲۰۲۳ مطابق ۲٦ جدی ۱٤۰۱ ساعت ٤:۰۰ عصر به شعبه لوجستیک دفتر مرکزی مؤسسه داکار واقع پروژه تایمنی، پایکوب نسوار، سرک ۱۲ قلعه فتح الله، ولایت کابل بسپارند.

فورم قیمت گذاری و اعلان داوطلبی را از صفحات انترنیتی ذیل میتوانید بدست آورید:

www.Dacaar.org
www.Acbar.org
نمبر تیلفون: ۰۰۹۳۲۰۲۲۰۱۷٥۰
jamal@dacaar.org
www.dacaar.org
۳٥۱۱

***

**اطلاعیه محکمه**

به اطلاع اسامی فرهاد فرزند میرزا مسکونه اصلی قریه شورابک فیض آباد و فعلا در کشور ایران رسانیده می شود که از اثر دعوی حقوقی فایز بنت غلام سخی ساکن فعلی شهر فیض آباد ولایت بدخشان راجع به دعوی تفریق اش در دیوان مدنی شهری فیض آباد ولایت بدخشان تحت بررسی قرار دارد الی مدت یک ماه غرض دعوی نسبتی اش به دیوان ذکور حاضر نگردد در غیاب وی تصمیم قضائی صادر گردیده و آنگاه حق شکایت را ندارد.۳۵۰۷

***

**اطلاعیه دعوت به داوطلبی**

وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی دو قطعه زمین به مساحت ۱۴ بسوه زمین سفید جایداد این وزارت را واقع یکه توت در مربوطات ناحیه نهم شهر کابل به قرار داد می سپارد

وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی از تمام داوطلبان (اشخاص و شرکت ها) واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی به کرایه گرفتن جایداد این وزارت واقع یکه توت ، در مربوطات ناحیه نهم شهر کابل ، دو قطعه به مساحت حدودا ۱۴ بسوه زمین سفید اشتراک نمایند بناء متقاضیان محترم درخواستی های خویش را مطابق شرطنامه ، طبق قانون بعد از نشر اعلان الی ۲۱ روز تقویمی ارایه نمایند.

شرطنامه از آدرس ذیل قابل دریافت می باشد:

پل باغ عمومی ، تعمیر هجده منزله وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی ، منزل چهاردهم ، مدیریت عمومی املاک .

تسلیمی درخواستی از تاریخ نشر اعلان روز ۲۱ مدار اعتبار می باشد.

زمان جلسه داوطلبی :

یک روز بعد از ختم تاریخ اعلان داوطلبی در صورت رخصتی و یا جمعه اولین روز رسمی بعد از آن.

مکان جلسه داوطلبی : وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی واقع پل باغ عمومی.۳۵۰۳

***

**اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات**

جواز شماره ( ۱۹٦٥ ) مورخ ۱۳۹۹/۹/۲۴ متصدی رهنمای معاملات فرید دوستی واقع ناحیه ۱۳ شاروالی کابل به نام فرید فرزند محمد حسین خواهان فسخ جواز خویش گردیده است . بناء بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هرگاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی یک هفته به ریاست انسجام ، بررسی و ثبت جمعیت ها و احزاب – وزارت عدلیه اطلاع دهند.۳۵۹۵

***

**اطلاعیه دعوت به داوطلبی**

قرار است جمعیت افغانی سره میاشت به کرایه دهی (۸۹۹۵.۹۰) متر زمین واقع ساحه دفتر مرکزی جمعیت هلال احمر افغانی مطابق اسکیچ به مزایده سپرده میشود. از شرکت های ساختمانی ، تجارتی و لوژستیکی که در رابطه فعالیت داشته باشند جهت قرار داد درخواست های خویش را به ریاست لوژستیک جمعیت هلال احمر افغانی واقع افشار سیلو سپرده ، و خود شان بعد از نشر اعلان الی مدت ۱۴ روز مراجعه نموده و پول حق الاشتراک مبلغ ۱۰۰۰ افغانی نقدا اخذ میگردد.۳۵۰۸

***

**اطلاعیه مفقودی**

سند ملکیت فروش آپارتمان واقع وزیر اکبر خان به اسم محب الله فرزند غلام علی و مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۵۰۹

***

**اطلاعیه مفقودی**

ترجمه انگلیسی زوجیت خط شرعی دارای نمبر ۱۵۳/۳۷۷ به اسم لیث فرزند اورنگ زیب مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۵۰۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی دارای ویزه کشور مسکو به اسم عزت الله فرزند محمد دین مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۴۹۷

***

**داوطلبی**

شرطنامه مزایده داوطلبی (آفرهای سربسته) اجاره دهی کانتین وتخت شورنخود فروشی داخل باغ وحش کابل شماره داوطلبی: 1401/KM/NCS/L-121

شاروالی کابل از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید، تا در پروسه داوطلبی اجاره دهی کانتین وتخت شورنخود فروشی داخل باغ وحش شهرکابل اشتراک نموده و نقل شرطنامه مربوطه را دربدل (۱۰۰۰) یکهزارافغانی بدون بازگشت از آمریت تدارکات خدمات مشورتی واجاره دهی ریاست تدارکات شاروالی کابل بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشراعلان الی ۲۱ روز تقویمی بعداً ارائه نمایند. آفر های نا وقت رسیده قابل پذیرش نمی باشد. تضمین آفر مبلغ (٦٥٬۲۰۰) افغانی نقدی ویا بانک گرنتی اخذ میگردد، جلسه آفر گشایی مطابق مندرج شرطنامه به وقت وزمان تعین شده، در منزل اول صالون طعام خوری (کلوپ) شاروالی کابل واقع چهار راهی ملک اصغر - جوار پارک زرنگار، شهر کابل تدویر میگردد.

***

**موضوع : اعلان معدن سن-گ نفرایت ولایت کاپیسا!**

ریاست تنظیم قراردادهای کوچک از تمام داوطلبان تقاضا بعمل میآورد تا در پروسه داوطلبی معدن سنگ نفرایت ساحه ولگی مربوطات ولسوالی تگاب ولایت کاپیسا که در مساحت ۰,۳۰۸۷٥ کیلومتر مربع در مقیاس کوچک به قرارداد سپرده میشود علاقمندان میتوانند اعتبار از تاریخ نشر اعلان الی ٦ دلو۱٤۰۱ درخواست های خویش را به ریاست عمومی تنظیم منرالها ارایه نمایند.

## په ننګرهار او بلخ کې سلګونه ...

او روزنیز مرکز څخه ۱۲ زره ۵۰۰ سرتېري له فکري او نظامي زده کړو وروسته فارغ شوي دي. د یو بل خبر له مخې؛ د بلخ د ښوونیز او روزنیز مرکز څخه یو شمېر پولس فارغ شول. په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې د بلخ د پولیسو د ښوونیز او روزنیز مرکز قومندان مولوي فضل الرحمن نصرت فارغانو ته په وینـــا کې وویل، چې یوازې په دغه زده کړو تکیه ونه کړي بلکې؛ هڅه وکړي ترڅو د هېواد په کچه وځلېږي. نوموړي زیاته کړه، چې په دغه دوره کې ۲۴ تنه استادانو د ۱۵ ورځني د ظرفیت لوړوني له کورس څخه، ۴۵ تنه انجنیران د ماین پېژندنې له یوې اوونۍ زده کړو څخه، ۳۷ تنه د محل واقعط د بررسۍ له یوې اوونۍ سیمینار څخه، ۲۵ تنه ښوونکي د درې ورځنۍ رهنمودي سیمینار څخه او همدارنګه ۷۷ تنه ساتونکي له ۳۰ ورځني کورس څخه فارغ شول.

## کندز او ننګرهار کې مالدارنو سره مرسته ...

دغه راز د ننګرهار په حصارک ولســوالۍ کې ۲ زره مالدارانو ته حیواني خوراکي مرســته ورکړل شوه، چې په کې هر مالدار ته ۱۰۰ منه کونجاره او ۵ کیلو د شفتلې تخم ورکړل شو.

## به مشکلات قوم کوچی هلمند ...

سرپرست وزارت امور سرحدات، اقوام و قبایل گفت: امارت و نظام اسلامی متعلق به همه مردم، قوام و اقشار است، زیرا مردم افغانستان در آزادی کشور از اشغال سهیم بودند و در این راه فداکاری های زیادی کردند. وی افزود که رســیدگی به مشکلات و نیازهای اقوام، وظیفه این اداره اســت و به بزرگان قوم کوچی هلمند اطمینان داد که خواست‌ها و مشکلات شان را با نهادهای مربوط، شریک خواهد کرد.

## زابل کې د یوې مدرسې د بنسټ ...

د نوموړي په وینا، دا مدرسه د ۳۵ زره ډالرو په ارزښت د iddef خیریه بنسټ له لوري جوړېږي، چې په مرسته به یې هغه تشه چې ورانډې د دیني زده کړو په برخه کې موجوده وه ډکه شي.
د یادونې وړ ده، چې د iddef خیریه بنسټ له لوري دا مهال د کابل - کندهار د لویې لارې په اوږدو کې د شهر صفا ولسوالۍ اړوند سیمه کې د یوه باب مسجد د جوړېدو چارې په اساسي ډول پیل کړې دي.

## د کابل - جلال آباد پر لویه لاره ...

مدیریت او کنډک په امکاناتو تر بیا رغولو وروسته د یو لړ مراسمو په ترځ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د باختر آژانس د خبر له مخې؛ په دغه مراسمو کې د قول اردو مرستیال مولوي محمد نظامي وویل، چې د یاد پُل چارې د دوه میاشتو په موده کې د مسلکي انجنیرانو له لوري ترسره شوې، چې لګښت یې د ملي دفاع وزارت د سرپرست مولوي محمد یعقوب مجاهد له لوري ورکړل شوی دي. په پای کې د قول اردو ویاند زیاته کړه، چې د قول اردو ټول مشران ، مسوولین او مجاهدین شپه او ورځ د ډاډمن امنیت رامنځته کولو سربېره خپل توان سره سم د هېواد د پرمختګ او آبادۍ لپاره هم ګړندي ګامونه اخلي او له ولسونو څخه یې وغوښتل، چې د اسلامي ملي اردو ترڅنګ دې ودرېږي.

## د هېواد په ۵ ولایتونو کې څه باندې ...

او یو پاکټ مالګه ورکړل شوه. ورته مهال د لغمان په الیشنګ ولسوالۍ کې د اکشـــن ایډ موسســـې له لوري ۳۰۰ کونډو ته د کورنیو چرکانو د تغذیې په موخه ۱۵۰ کیلو ګرامه دانه ورکړل شوه. دغه راز د دې ولایت په مرکز مهترلام ښار کې ۷۲ بېرته راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو کورنیو ته د UNHCR موسسې له لوري د ۵۸ زره امریکایي ډالره نغدي مرسته وشوه. ورته وخت کې د یونسیار سازمان له لوري په جوزجان کې له ۱۰۹ کورنیو سره نغدي مرسته وکړه، چې په کې هرې کورنۍ ته ۲۷۵ ډالر ورکړل شول. همدارنګه لوګر کې د خوړو نړیوال سازمان له لوري پر ۵ زره ۷۷۱ کورنیو نغدي مرسته ووېشل شوه، چې په کې هرې کورنۍ ته ۴ زره ۳۰۰ افغانۍ ورکړل شوې.

## اسلامي امارت سوداګرو او صنعتکارانو ...

په هېواد کې د سوداګرو او صنعتکارانو د پانګونې لپاره د خوندي چاپېریال په اړه خوښي څرګنده کړه او د سوداګرو او صنعتکارانو په استازیتوب یې خپلې ســـتونزې او وړاندیزونه شریک کړل. په ورته وخت کې د سوداګرۍ خونې د اداري پلاوي لومړي مرستیال محمد یونس مهمند او یو شمېر سوداګرو خپل نظرونه او ځینې ستونزې د چارو ادارې له مشرتابه سره شریکې کړې او د دوی د ستونزو د حل غوښتنه یې وکړه. شیخ الحدیث نورالحق انور په خپلو خبرو کې د هېواد د خودکفایۍ لپاره د پانګوالو او صنعتکارانو رول مهم وګاڼه او ویې ویل، چې د افغانستان دښمنان نه غواړي دا هېواد پر مختګ وکړي او له نېکه مرغه د افغانســـتان اسلامي امارت د ملي او نړیوالو سوداګرو او صنعتکارانو لپاره د پانګونې د زمینې برابرولو ظرفیت او وړتیا لري. په وینا یې، د افغانستان اسلامي امارت دروازه د ټولو خلکو پر مخ خلاصه ده او رهبري د هېواد اوسني وضعیت ته په کتو د هغو پانګونو ملاتړ کوي، چې د هېوادوالو ګټې په پام کې ونیسي. نوموړي سوداګرو او پانګوالو ته هم ډاډ ورکړ، چې د دوی د ستونزو د حل په موخه به له وزارتونو سره لازمې هڅې وکړي.

## پاکستان له ژمنو سره سره افغانان...

ګډون نیول شوي افغانان له زندانونو څخه نه دي خوشي شوي. سرچینې بیا هم پر پاکستاني چارواکو غږ کړی چې په یاد هېواد کې د مېشتو او مسافرو افغانانو په تېره بیا د ښځو ماشومانو سپین ږیرو او ناروغانو زنداني کول او ځورونه خورا دردوونکې ده. ســرچینه وایي دا کار د دواړو هېوادونو د اړیکو لپاره ښــه پایله نـــه لري او په کار ده چې دغه شـــته بندیان ژر تر ژره خوشـــي او دا لړۍ پای ته ورسېږي، خو ســفارت دانه دي ویلي چې د پاکســـتان په زندانونو کې څومره افغانان لا هم بندیان دي.

## کندز کې د ۱۵ میلیونو افغانیو په لګښت یوه ...

هغه زیاته کړه ،چې د یاد کانال پروژه چې د ABADEI تر عنوان لاندې ترسره شوه، چې ۱۳۵ متره په طول کانال په RCC ډول تحکیم، ۱۲۳ متره ســـنګ کاري، ۱٦ مترو په طول ګبیوني دېوال، ۲۲ متر مکعب د اوبو زېرمه، ۱۱۰ متره ژور کوهي او ۵۰۰۰ ترنچونه شامل دي.

## روزګان کې ۲۰۰ جریبه ځمکه له غصب څخه ...

له لوري بېرته راوګرځول شوه.
دا په داسي حال کې ده، چې په بېلابېلو ولایتونو کې د غصب شویو ځمکو د مخنیوي کمېټو خپل کارونه پیل کړي، چې تر دې دمه یې زرګونه جریبه ځمکه د غاصبینو له منګولو خلاصه کړې ده.

## تکمیل کار هفت پروژه عام المنفعه ...

مولـوی محب الله عادل رئیس حـوزه دریایی کندز پایینی گفت: این پروژه‌ها به هزینهٔ ۵ میلیون افغانی به کمک مالی دولت آلمان تکمیل گردیده است.

آقای عادل افزود: در این پروژه‌ها برای چهار هزار تن زمینهٔ کار نیز فراهم گردیده بود.
رئیس حـوزه دریایـی، تطبیق ایـن پروژه‌ها را در قسـمت بلند رفتـن حاصلات دهاقیـن مهم تلقی کـرد و افزود کـه با تطبیق این پروژه‌هـا، بیش از چهار هـزار هکتار زمیـن زراعتی آبیاری می‌شود.

## ټول مؤسسات مکلف دي، چې د افغانستان ...

له خنډ او ځنډ سره مخ نه شي.)
نوموړي زیاته کړه، چې موږ تیار یو، څو له ښځینه کارمندانو سره محرم، حجاب او د کار ځایونو جلاوالی لازمي کړو. په دغه کتنه کې د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست خلیل الرحمن حقاني وویل، چې هر هېواد خپل نظام او قانون لري او د هر هېواد تبعه چې بل هېواد ته ځـي، وار له مخه ژمنه کوي، چې زه به د دغه هېواد قوانین پرځان منم، ځکه نو ټول موسسات مکلف دي، چې د افغانستان قانون پرځان پلي کړي.
نوموړي زیاته کړه: (زموږ او ستاسو مسولیت دی، چې مرستې په شفاف ډول اړمنو ته ورسوو او زه ډاډ درکوم، چې په دغه پروسه کې به موږ درسره پوره همکار یو، خو دغه مرســتې که ریښــتیا بشري وي، نو باید تر سیاسي حالاتو پورې ونه تړل شي.)
حقاني وویل، چې اسلامي امارت به د شریعت په چوکاټ کې ژر داسې تګلاره جوړه کړي، چې دغه ټول مشکلات به ورسره حل شي. د مهاجرینو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال محمد ارســلاح خروټي وویل، چې په تېرو ۴۰ کلونو کې د روسانو او امریکایانو د یرغلونو له امله تر ټولو زیاتې مېرمنې اغېزمنې شوې او اسلامي امارت تر هر چا زیات د مېرمنو ستونزو ته متوجه دی، خو لکه څنګه چې فکر کېده بشري مرستې اوس هم تر سیاسي اغېز لاندې دي او اوس د ځینو موسساتو د کار بندیز دا خبره لا جوته کړه. نوموړي زیاته کړه، چې تر ټولو اول د مهاجرینو چارو وزارت و، چې ښځو ته یې په شرعي بڼه په موسساتو کې د کار اجازه ورکړه، خو ځینې سرغړونې او شرعي اصولو ته نه پاملرنه ددې لامل شوې، چې بندیز پرې ولګېږي.

## بهرنیو مرستندویه ټولنو ته باید واضحه تګلاره...

محدودیت کېدی شــي دغه تیارې ډوډۍ لاسه ورکړي او دوه، درې کاله څه ناڅه بـې وزلي هم وزغمي خو دادې هم ومني چې غالباً اخر پای پرخپلو پښــو دریــږي او داوږد مهال لپاره به یې زښــته لویه بریا ترلاســه کړې وي. په دې لړکې د هېواد رســنۍ، دیني علماء، امامان، خطیبان، اســتادان او نور ټولنیز مخور شخصیتونه هم دروند مسؤلیت لري چې باید خپل ولس ته قناعت او پوهــاوی ورکړي او د یادو تش په نامه خیراتونو له زیانونو یې ښه په تفصیل ســره خبر کړي نور باید افغان مېړنی ولس د بې ننګۍ له دې پیغوره وژغورل شــي.

## آغاز کار اعمار پنج ذخیرهٔ بزرگ آب به هزینهٔ ...

فراه می‌گوید: که این ذخیره‌های آب آشــامیدنی که هر کدام گنجایش ۲۰ هزار لیتر آب را دارد، در پنج قریه (سیاه‌جنگل، تقصیرک، گنج‌آباد و گرانی) ولسوالی بالابلوک ساخته می‌شود.
ســرهنگ افــزود کــه بــا آغــاز کار ایــن ذخیره‌هــا، در ســه مــاه بــرای ۱۵۰ تــن زمینـهٔ کار موقـت نیـز فراهـم شـده است.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ۵۰۰ زره ...

د دې وزارت ویاند مفتي فیصل شریعت ته وویل، چې تر اوسه یې شاوخوا پنځه سوه (۵۰۰) زره یتیمان، کونډې او معلولیت لرونکي وګړي ثبت کړي دي، چې د یادو پنځه ســوو زرو له جملې څخه یې ۱۵۰ زره معلولین دي. همدارنګه نوموړي زیاتوي په یادو معلولینو او یتیمانو کې د اسلامي امارت یتیمـــان او معلولین، ملکي یتیمان او معلولین، د تېرې اداري نظامیانو لکه پولیس، اردو، قطعه خاص او کمانډو معلولین او یتیمان او همدا شان طبیعي معلولین شامل دي. ښاغلی فیصل وایي چې په یادو یتیمان او معلولینو کې زیاتره د تېرې اداري یتیمان او معلولین دي. هغه وویل، تر دې دمه درې سوه پنځوس (۳۵۰) زرو یتیمانو او معلولیت لرونکو وګړو او کونډو د روان کال د شپږو میاشتو او ځینو نورو د پوره کال میاشتنۍ نغدي مرستې تر لاسه کړې دي. همدا راز څه موده وړاندې د یاد وزارت مرستیال عبدالحکیم حقاني په یوه خبري غونډه کې وویل، چې د تېر حکومت په پرتله د شهیدانو او معلولینو په مالي امتیازاتو کې کمښت راغلی دي، بلخوا د دې وزارت ویاند ښاغلی فیصل وایي، چې هر یتیم ته د میاشتې دوه (۲۰۰۰) زره افغانۍ مالي امتیاز ورکول کېږي، حتی که کورنۍ کې لس یتیمان هم وي.
نوموړي وویل، د یو معلول معلولیت ته په کتلو په هماغه اندازه امتیاز ورکول کېږي. دغه شـــان د شـــهیدانو او معلولینو وزارت ویاند مفتي فیص وایي، چې د روان مالي کال لپاره د شـــهیدانو او معلولینو وزارت ته ۱۳ عشاریه ۵ میلیارده افغانۍ بودجه بېله شوې ده. دا په داسې حال کې چې د شهیدانو او معلولینو وزارت د میاشتینیو امتیازاتو د ورکړې خبر ورکړی، د شهیدانو کورنۍ او معلولین د معاشاتو اخیستلو نه خوښ دي. جاوید د ننګرهار اوسیدونکی وایي، د اسلامي امارت أه راتګ وروسته مونږ ته میاشتنۍ معاشونه دوه واړې شپږ شپږ میاشتې بعد راکړل شــوي. ښاغلی جاوید مونږ ته د تیر یوه کال معاش په وخت ســره راکړل شوی دی. دغه راز منصور د کابل اوسیدونکی وایي، چې معلولین د ټولنې هغه قشر دی، چې له دې معاشه غیر بل هیڅ نه لري او خوښ یو، چې اسلامي امارت موږ ته میاشتنۍ معاش هر و شپږو میاشتو پس په خپل وخت راکوي.

**حسن خان**

## آغاز روند توزیع پول نقد برای هزاران خانوادهٔ ...

ولایت نیمروز آغاز گردیده است.
مســؤولان مؤسســه فراداتا در نیمروز می‌گوینــد که چهار هــزار و ٥٥٤ خانوادهٔ بی‌بضاعت که قبلاً از ســوی تیم‌های مؤظف ســروی شــده بودنــد، برای هــر خانــواده مبلغ ٦٤٠٠ افغانــی پول نقــد کمک برنامه غذایــی جهان توزیع می‌شود.

## هیچاته اجازه نه ورکوو، چې دولتي جایداد ...

مولوي سمیع الله حزب االله سره د غصب شویو دولتي جایدادانو د بېرته راګرځولو په اړه ناسته وکړه او ټینګار یې وکړ، چې په دغه ولایت کې به ټولې هغه دولتي ځمکې او جایدادونه چې د یو شمېر زورواکو له لوري غصب شوې وې بېرته راوګرځوي.
د باختــر آژانس د خبر له مخې؛ مولوي عطاالله عمري په دغه کتنه کې سپارښتنه وکړه، چې د غصب شویو دولتي جایدادونو د مخنیوي په برخه کې جدي دي او هېچاته به اجازه ورنه کړي چې دولتي جایدادونه غصب کړي.
د بغلان د والي ویاند ملاعلم مجیدي د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د پخواني حکومت پر مهال د ځینو کارکوونکو او د وخت د چارواکو له خوا په دغه ولایت کې ۲۷۹ زره ۸۴۰ جریب دولتي ځمکه غصب شوې چې د بېرته راګرځولو لپاره یې کار پیل شوی او تر دې دمه یې ۷۰۰ جریبه ځمکه بېرته راګرځول شوې او د پاتې ټولې غصب شویو ځمکو تر ژغورل کېدو به ټاکل شوې کمېټه په پوره قاطعیت کار ته دوام ورکړي . یاده دې وي، چې په بغلان کې د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د بېرته راګرځولو په موخه یوه کمېټه جوړه شوې، چې په پوره جدیت ســره د غصب شویو جایدادونو د بېرته راګرځولو په موخه هلې ځلې کوي.

## د ۴۰ کلنې جګړې د معلولو او فلج شویو جنګیالیو ...

ګنډولــو، مرۍ اوبدلو او موبایل جوړولو په برخه کې زده کړې ورکول کېږي.
په ورته وخت کې د افغانســـتان د اوســپنې پټلۍ د ادارې مشر مولـــوي بخت الرحمن شرافت، چې په دغه مراســـمو کې یې ګـــډون کړی وو وویل: (که موږ علم او ټیکنالوژۍ زده کړو، تر څو بیا د قران حافظ، ډاکټر او انجنیر مجبوره نشي، چې د دښمن په مقابل کې په ځان پورې بمونه وتړي.)
د اسلامي امارت مرستیال ویاند قاري محمد یوسف احمدي بیا د دغه مرکز پرانیستل نېک اقدام وباله او ویې ویل، چې اسلامي امارت د یوه مسوول نظام په توګه د معلولینو او د هغوی د کورنیو ستونزو ته د رسېدو په تړاو ځان مکلف ګڼي.
د یادونـــې وړ ده، چـــې په دغه مرکز کې دمګـــړۍ تر ۳۰ ډېرو معلولینو ته د روزنې او پالنې استانتیاوې برابرې شوې دي او ټاکل شـــوې ده، چې په نږدې راتلونکي کـــې د هېواد له ګوټ ګوټ څخه ورته معلولین را جلب او روزنه ورکړل شي.

## شناسایی و حل مشکلات مردم از اولویت‌های ...

آنـــان ضمن یادآوری از مشـــکلات و چالش‌هـــای موجود در منطقهٔ مارچاغ، افزودند که عدم موجودیت برق بزرگترین مشکل منطقهٔ یاد شـــده است و خواهان توجه ویژهٔ مسؤولین نظام اسلامی در این زمینه شدند. مولوی عبدالســـلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء ضمن استقبال از ملاقات با علماء و بزرگان مارچاغ، گفت که نظام اسلامی متعلق به همه مردم افغانستان است و حمایت از آن وظیفه هر فرد این کشور می باشد.
معاون اداری ریاســـت الوزراء افزود که امارت اســـلامی وظیفهٔ خود می‌داند تا مشکلات همهٔ مردم افغانستان را مورد شناسایی قرار داده و به حل آن‌ها اقدام نماید. او وعده سپرد که مشکلات منطقهٔ مارچاغ از سوی ادارات مربوطه پیگیری و در قسمت حل آن اجراآت لازم انجام خواهد شد.

## افغانستان کې د هند د نیمګړو پروژې...

جـــوړ کړي. د هند د بهرنیو چارو وزارت په یوه بیان کې ویلي، چې په دې برخـــه کې بېلابېل وړاندیزونه کېږي. په همدې حال کې د اقتصاد وزارت وایي، چې په هېواد کې د نیمګړو پروژو د کار پیل به خلکو ته د کار زمینه برابره کړي او د کورنیو عاید به ور ســـره زیات شـــي. تر دې مخکې د ښار جوړونې او کور جوړونې وزارت ویلي و، چې نوی ډهلي لېواله دی، چې په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې خپلې ۱۲ نیمګړې پروژې بیا پیل کړي.

## سفر وزیر انرژی و آب به ازبیکستان غرض تمدید ...

مردم از بابت برق مرفوع شود.
مـــلا عبداللطیف منصور گفت: وزارت انـــرژی و آب به خاطر رفاه و آسایش مردم تلاش می‌ورزد تا برق بیشتر را به کشور وارد کند و از مردم خواست تا در حفر چاهای عمیق و صرفه جویی در مصرف آب توجه و دقت بیشتر داشته باشند و نیز از برق سولری به گونهٔ معیاری استفاده نمایند.
منصور وعده داد که هزینهٔ پرداخت صرفیه برق در سراسر کشور یکسان خواهد شد تا مردم به قیمت یکسان پول صرفیه برق شان را به حساب دولت تحویل کنند.

## چین د ډېرو له سکرو څخه د برېښنا د تولید ...

په افغانســـتان کې له ډېرو ســـکرو د ۵۰۰ مېګاواټه برېښنا تولیـــد په برخه کې پانګونه وکـــړي. په خبرپاڼه کې راغلي د چین د ســـوداګرۍ خونې اســـتازي ویلي چې دوی په ۱۱ هېوادونو کې له ډېرو ســـکرو د برېښـــنا تولیـــد تجربه لري او افغـــان لوری چې په هر ولایت کـــې وغواړي دوی به د ډېرو ســـکرو له لارې د برېښنا تولید دستګاوې نصب کړي.
سرچینې لیکلي د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرایوي رییس په دغه لیدنه کې ویلي چې په دې اړه به د افغانســـتان برېښـــنا شرکت او د چین لوري ګډ تخنیکي پلاوي د ګډو ناســـتو له لارې پر ټولو مواردو خـــبرې او څېړنې وکړي او وروســـته به ترلاسه شـــوې پایله د افغانســـتان د سرپرست حکومـــت له رهبرۍ سره شریکه کړي. هغه دغه راز د چین د سوداګرۍ خونې استازي ته ډاډ ورکړی چې په افغانستان کې د برېښـــنا تولید په برخه کـــې د هر ډول پانګونې په تړاو همکارۍ ته چمتو دی.

Shariat
Twice printed in week

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: Shariatdaily@gmail.com
WWW: dailies.gov.af / shariat :ویب سایت

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رییس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤول مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: Shariatdaily@gmail.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوي ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Saturday 31 December 2022 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 115

# ۷۰ تنه افغانان د متحده عربي اماراتو له زندانونو آزاد شول



د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت مسوولین وايي، چې د دغه وزارت په هڅو ۷۰ تنه افغانان د متحده عربي اماراتو له زندانونو څخه ازاد شوي دي.
دوبۍ کې د بهرنیو چارو وزارت اړوند د افغانستان جنرال کونسلګرۍ وايي؛ په پرلپسې هڅو یې ۷۰ تنه هغه افغانان ازاد کړي، چې د عربي اماراتو په زندانونو کې بندیان وو.
مسولین وايي؛ د دې زندانیانو د خلاصون قانوني مراحل بشپړ شوي او افغانستان ته به واستول شي.
ډېرى وخت په ځینو هېوادونو کې افغانان د ویزو ختمېدو، په غیر قانوني لارو نورو هېوادونو پر تګ او نورو ورته دول غیر قانوني کړنو او کارونو له امله د حکومتونو له لوري نیول کېږي چې د یادو هېوادونو په زندانونو کې کلونه کلونه زندانیان وي.

## اسلام اباد کې د افغانستان سفارت
# پر تکراري ژمنو سربېره، لا هم پاکستان افغان بندیان نه دي آزاد کړي

په اسلام اباد کې د افغانستان سفارت وايي، د پاکستاني ادارو او چارواکو له ژمنو سره سره لا هم په پاکستان کې د ښځو او ماشومانو په ګډون نیول شوي افغانان له بنده نه دي آزاد شوي.
د پاکستان په پلازمېنې اسلام آباد کې د افغانستان سفارت ویلي چې په اسلام آباد کې د اسلامي امارت سفارت او افغان جنرال کونسلګریو سره د پاکستاني ادارو او چارواکو له ژمنو سره سره پاکستان په ځانګړې ډول سند ایالت کې د ښځو او ماشومانو په...۷مخ



## د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست
# ټول مؤسسات مکلف دي، چې د افغانستان قانون پرځان پلي کړي

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست خلیل الرحمان حقاني د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د بشري ټولنې له مرستیال فران، د (OCHA) اداري مرستیال محمد زید خاطر، د (UNHCR) اداري مرستیالې آغلې یومیکو او د (IOM) او (ACBAR) موسسو له استازو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.
د باختر آژانس د خبر له مخې؛ په دغه ناسته کې د بشري مرستو په څرنګوالي، رامنځته شوو ستونزو او د هغې په حل لارو خبرې وشوې.
د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د بشري ټولنې مرستیال فران وویل: (موږ د افغانستان قوانینو، دین، کلتور او عنعناتو ته درناوی لرو، مونږ ژمن یو، چې خپلو مرستو ته ادامه ورکړو، خو په دغو وروستیو کې په ښځینه کارکوونکو کار بندیز موږ له یو لړ ستونزو سره مخ کړي یو او موږ غواړو، چې دغو ستونزو ته د قانون سره سم یوه حل لاره ومومو، ترڅو مرستې... ۷مخ

# تکمیل کار هفت پروژه عام المنفعه در بغلان

شریعت: ریاست حوزه دریایی بغلان در سال‌جاری هفت پروژۀ عام المنفعه را به بهره برادری سپرده است.
این پروژه‌ها، شامل اعمار دیوار استنادی و پاک‌کاری کانال‌های آبی می‌شود که به صورت کار در بدل غذا در ولسوالی‌های بغلان مرکزی، دوشی و پلخمری مرکز بغلان تطبیق شده است... ص۷

## د پانګونې او سوداګرۍ د اتاق پلاوی
# اسلامي امارت سوداګرو او صنعتکارانو ته خوندي چاپېریال برابر کړي

شریعت: د چارو اداري لوی رئیس شیخ الحدیث نورالحق د پانګونې او سوداګرۍ د اتاق له مدیره پلاوي او ځینو سوداګرو او صنعتکارانو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.
د باختر آژانس د خبر له مخې؛ د افغانستان د صنایعو او کانونو خونې رئیس شیرباز کمین زاده... ۷مخ




# هرات: تېر یوه کال کې څه باندې ۱۸۷ زره برېښنایي پېژندپاڼې وېشل شوې دي

شریعت: د هرات د احصائیې او معلوماتو ریاست مسوولین وايي، چې د اسلامي امارت له بریا وروسته یې ۱۸۷ زره ۷۰۰ کسانو ته یې برېښنایي پېژندپاڼې وېشلې دي.
د هرات د برېښنایي پېژندپاڼو د وېش عمومي مدیر محمد نعمان غلجایي وویل، چې په هرات کې د پېژندپاڼو د وېش درې مرکزونه فعال دي، چې د ښځو په ګډون ۱۲۰ کارکوونکي لري.
له بلې خوا د هرات د احصائیې او معلوماتو رئیس مولوي محب الله هدایت وايي ، چې اوس هره ورځ ۱۲۰۰ کسان د برېښنایي پېژندپاڼو د اخیستو لپاره زموږ مرکزونو ته مراجعه او په یوه کاري ورځ کې د نوم لیکنې له بهیره تېرېږي او د چاپ مرکزونو ته لېږدول کېږي.

# د هېواد په ۵ ولایتونو کې څه باندې ۱۰ زرو اړمنو کورنیو مرسته ترلاسه کړه

په ننګرهار، پکتیا، لغمان، جوزجان او لوګر ولایتونو کې ۱۰ زره ۳۸۲ اړمنو کورنیو مرسته ترلاسه کړه.
د ننګرهار پېښو سره د مبارزې او چمتووالي ریاست په هڅو د IRC او DACAAR موسسې په مالي ملاتړ په اچین او دره نور ولسوالیو کې ۱۳۴ کورنیو ته صحي کېټونه چې ۱۹ قلمه غیرخوراکي توکي په کې شامل دي ورکړل شول.
د یو بل خبر له مخې؛ پکتیا کې د خوړو نړیوال سازمان له لوري د دې ولایت په روحاني بابا، ډنډ پټان او څمکنیو ولسوالیو کې پر ۴ زره ۵۰ اړمنو کورنیو خوراکي توکي ووېشل شول، چې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۴.۵۵ کیلو غوړي، ٦ کیلو دال...۷مخ



# کونړ کې یو روغتیايي مرکز جوړ شو

شریعت: د کونړ د دانګام ولسوالۍ په ګوریګا سیمه کې د ٦۲۵ زره افغانیو په لګښت یو فرعي روغتیايي مرکز پرانیستل شو.
د دغه مرکز په پرانیست غونډه کې د کونړ د عامې روغتیا رییس قاري مظفر مخلص وویل، چې دغه روغتیايي مرکز د PU-AMI موسسې په مالي ملاتړ د ٦۲۵ زره افغانیو په لګښت د دانګام ولسوالۍ په ګوریګا کلي کې پرانیستل شو، چې پر مټ به یې د نږدې کلیو ۷ زره خلکو ته د روغتیايي خدمتونو آسانتیاوې رامنځته شي. د کونړ د عامې روغتیا رییس وویل: روغتیايي خدمتونو ته ژمن یوو او هغو سیمو ته ځانګړې پاملرنه کوو، چې له روغتیايي خدمتونو بې برخې وي.
هغه زیاته کړه، چې د دانګام ولسوالۍ سربېره یې څو نورو ولسوالیو کې هم شپږ روغتیايي مرکزونه جوړ کړي، چې پرمټ یې خلکو ته روغتیايي آسانتیاوې رامنځته شوې دي.
ځايي خلکو د یاد روغتیايي مرکز په جوړېدو خوښي وښوده او په نورو لرې پرتو سیمو کې یې هم دې ته ورته روغتیايي مرکزونو د جوړېدو غوښتنه وکړه.




# په ننګرهار او بلخ کې سلګونه سرتېري او پولیس فارغ شول

د ننګرهار او بلخ امنیتي مسوولین وايي، چې د دغو ولایتونو له ښوونیزو او روزنیزو مرکزونو څخه سلګونه سرتېري او پولس له فکري او نظامي زده کړو وروسته فارغ شوي دي.
د باختر آژانس د خبر له مخې؛ د ننګرهار د ختیځ زون د پولیسو د ښوونیز او روزنیز څخه ۴٦۰ سرتېري له یوې نیمې میاشتې فکري او نظامي زده کړو وروسته فارغ شول. د دغه مرکز قومندان رحمت الله نعماني په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې سرتېرو ته په وینا کې وویل: تاسو د ولس خادمان یئ په پوره توان به هڅه کوئ ترڅو د ولس خدمت وکړئ.
نوموړي زیاته کړه، چې تر دې دمه له دغه ښوونیز ... ۷مخ

# زابل کې د یوې مدرسې د بنسټ ډبره کېښېښودل شوه

شریعت: د زابل والي مولوي قدرت الله ابوحمزه له لوري د کلات ښار اړوند په سپینه غبرګه کې د یوې مدرسې د بنسټ ډبره کېښېښودل شوه.
د زابل والي قدرت الله ابوحمزه د iddef خیره بنسټ څخه مننه وکړه، چې په یوه لرې پرته سیمه کې سلګونه کسانو ته د لیک لوست زمینه برابروي... ۷مخ

# بغلان کې د غوري برېښنا شرکت ۱۰ جریبه ځمکه د غاصبینو له منګولو خلاصه شوه

د بغلان سیمه ییز مسوولین وايي، چې په دغه ولایت کې یې د غوري برېښنا شرکت ۱۰ جریبه ځمکه د غاصبینو له منګلو خلاصه کړې ده. په بغلان کې د غوري برېښنا شرکت رییس قاري سردار ولي حمزه د باختر آژانس خبریال ته وویل، چې د دغه ولایت د خنجان ولسوالۍ د ګزه ګیل سب سټېشن ۱۰ جریبه ځمکه چې په تېره اداره کې د زورواکو له خوا غصب شوې وه، بېرته را وګرځول شوه. قاري حمزه زیاته کړه، چې غاصبینو په دغه ځمکه کې شاوخوا ۴۵ د استوګنې کورونه جوړ کړي. چې ۱۵ میاشتو وخت ورکړل شوی، تر څو د دغه شرکت ملکیت پرېږدي.
نوموړي د دغه ځمکې بېرته راګرځول د ګزه ګیل سب سټېشن په پراختیا کې مهم ګام وباله او زیاته یې کړه، چې د اندرابو ولسوالیو ته به هم له همدې سب سټېشن څخه برېښنا ورکړل شي.

# د کابل – جلال آباد پر لویه لاره د نظر آباد پُل په اساسي توګه ورغول شو



د کابل - جلال آباد پر لویې لارې د نظر آباد پُل چې د وروستیو سېلابونو له امله ویجاړ شوی و د ملي دفاع وزارت سرپرست مولوي محمد یعقوب مجاهد په امر او د ۲۰۱ خالد بن ولید (رض) قول اردو د رهبرۍ تر نظارت لاندې د قول اردو د انجنیري... ۷مخ


# ننګرهار کې پر ۲.۸ کیلو متره سړک د کانکرېټ اچولو چارې پیل شوې

د جلال آباد ښاروالۍ مسوولین وايي، چې د دغه ښار د اوومې ناحیې په غوچکو سیمه کې د ۲.۸ کیلو مترو په اوږدوالي او ٦ مترو پلنوالي سره پر یوه سړک د کانکرېټ اچول چارې پیل شوې.
د باختر آژانس د خبر له مخې؛ په همدې موخه جوړ شویو مراسمو کې د جلال آباد ښاروالۍ مرستیال مولوي مومن حمید وویل، چې یاد سړک د دغه ښاروالۍ په ۱٦.۸ میلیونو افغانیو بودجه رغول کېږي، چې پر مټ به یې د تګ راتګ پر وړاندې شته ستونزه له منځه لاړې شي.
د یادونې وړ ده، چې د دغه سړک د رغولو چارې به د ۳ میاشتو په موده کې بشپړې شي.



# نیمروز کې له سلګونو کډوالو کورنیو سره نغدي مرستې وشوې

شریعت: د نیمروز مرکز زرنج ښار کې، پر ۴۷۳ کډوالو کورنیو باندې په داسي حال چې د ولایت مقام، اقتصاد او مهاجرینو ریاستونو استازو حضور درلود؛ نغدي مرسته ووېشل شول.
په نیمروز ولایت کې د OHA موسسې مسؤولین وايي، چې په تېر کال کې ۴۷۳ کډوالې کورنۍ چې نیمروز ته راستنې شوي و هرې کورنۍ ته د WFP په مالي مرسته د OHA موسسې له لوري ۸۵۰۰ افغانۍ نغدي ورکړل شوې.




## سرپرست وزارت امور سرحدات، اقوام و قبایل
# به مشکلات قوم کوچی هلمند رسیدگی می‌شود

شریعت: ملا نورالله نوری سرپرست وزارت امور سرحدات، اقوام و قبایل، در دیدار با بزرگان قوم کوچی هلمند گفت که رسیدگی به مشکلات و نیازهای اقوام، وظیفه و مسؤولیت این اداره است.
دفتر مطبوعاتی وزارت اقوام، قبایل و سرحدات با نشر خبرنامه‌یی گفته است که در این دیدار مولوی معروف اسحاقزی به نمایندگی از دیگران از تلاش های این وزارت، در رابطه به انسجام اقوام و رسیدگی به مشکلات آنان قدردانی کرد و مشکلات شان را در بخش‌های مالداری، زراعت و آموزشی با سرپرست وزارت امور سرحدات، اقوام و قبایل شریک کرد... ص۷

# کندز او ننګرهار کې مالدارنو سره مرسته وشوه

شریعت: په کندز کې ۲۵ کورنیو سره د شیدو غواګانې او ننګرهار کې له ۲۰۰ مالدارنو سره د حیواني خوراکي مرسته وشوه.د کندز په اقتاش ولسوالۍ کې د آغاخان بنسټ له لوري ۲۵ کورنیو ته ۲۵ د شیدو غواګانې ورکړل شوې، چې په ۲۴ ساعتونو کې د ۱۰ لیټره شیدو د تولید ظرفیت لري... ۷مخ

شریعت جریده داسلامي مبارزې یو رسا غږ او رښتیني هینداره ده، نو له ټولو مخلصو او با احساسه دعوتګرانو او دردمنو لیکوالانو هیله من یو چې موږ سره خپلو قلمي همکاریو ته دوام ورکړي.

توجه !
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!